خراسان غږ

دیني، تاریخي، سیاسي، ادبي او خبري مجله

خراسـان غـږ پنځلس ورځنۍ مجلـه | العزائـم خپرندویه اداره يي وړاندې کوي

کومه ازادي؟

د امریکا غلامي که د اهل قبله او اهل ذمه بهانې

هندوان، سیکهان، شیعه روافض أهل ذمه نه دي، بلکې محارب کفار دي او د دوی وینه، مال، عزت، مجاهدینو او مسلمانانو ته حلال دی او پر اسلامي خاوره د دوی عبادت خانې کوم شرعي حیثیت نه لري، بلکې د هغې ړنګول او ورانول سنت او د خلفاؤ او سلفو تګاره ده...

السيف البتُّــور على إمارة عُبّاد القبور

ما د مهاجرینو او انصارو صحابه کرامو قبرونه نه دي لیدلي، چې هغه چونه کړای شوي وي، ځکه له صحابه او تابعینو څخه د قبرونو ړولي کول، پښول او یا هم په هغې باندې بناګانې او قبې جوړل او یا هم هغې کې اجتماع ګانې او راغونډیدل بالکل ثابت نه دي، دا ډیر وخت بعد شروع شوي او د امت د ګمراهی لپاره ایجاد شوي دي

پټ ارتداد او الحاد د اسلام اوجهاد تر شعار لاندې!

نن عصر کې ټولې نړۍ ته دا خبره روښانه شوه، چې د امریکایي ولس ته جوبایډن وینا کوله او د وینا پرمهال یې د طالبانو د حکومت ستاینه وکړه او له طالبانو زښته ډېر راضي و او طالبان یې د امریکا لپاره په افغانستان کې یو نیابتي حکومت وباله...

نړیوال کفري دولتونه او که د طالبانو معبود؟

هو همدا په الله متعال ښکاره بدګماني ده چې د هغه رالیږلي حدود قانون، او شریعت دی د بل چا د رضاء رسمیت او خوږو حاصلولو لپاره د تطبیق د مرتبې نه وغورځول شي هو همدا دیو چا عبادت دی چې د الله نه په ویره او خوف ده ته دده نه په ویره او خوف ترجیح ورکړای شي، نن اسلام او مسلمانانی ته په نسبت کونکو کې د اسلام او مسلمانانو سر سخت دشمنان هغه همدا طالب ملیشې ګرځیدلې



طالبان د شرعي حدوداتو بدلوونکي کافران

د صحیح وینا له مخې د جادوګر وژل په دواړه حالاتو کې فرض دي (یعني که کافر وي او که نه)، ځکه دا په ځمکه کې فساد خپروي، د خاوند او ښځې تر منځ جدایي راولي، نو په پاتې کېدو کې یې ټولنه له ډېر لوی خطر او فساد سره مخ کېږي او په وژلو سره یې علاقې او خلک له فساد څخه خلاصېږي.

د خراسان د مجاهدینو لنډه پیژندنه

رب ددې مجاهدینو ارمانونه پوره کړل دعاګانې یې ورته قبولې کړې د دوی په جهاد کې الله متعال دومره برکت واچولو چې د دوی شمار الله له مخکې نه څو چنده زیات کړ...

25 ګڼه
یکشنبه 11 | صفر 1445هـ

مؤسسة العزائم الإعلامية
يې وړانــدې کوي

سرليک

خراســان غږ مجله ۲۵ مــه گڼه صفر ۱۴۴۵ هـ

سرمقاله:

کومه ازادي؟ 03

سياسي برخه:

نړیوال کفري دولتونه او که د طالبانو معبود؟ 06
د امریکا غلامي که د اهل قبله او اهل ذمه بهانې 18
پټ ارتداد او الحاد د اسلام او جهاد تر شعار لاندې! 24
طالبان د شرعي حدوداتو بدلوونکي کافران 29
السيف البتور على امارة عباد القبور 35
ديوبنديان څوک دي؟ (5) 53
د خراسان د مجاهدينو لنډه پيژندنه 61

لنډه کيسه:

د سوات د سردرو شاهين 71

کومه ازادي ؟

بسم الله الرحمن الرحيم

له کومې ورځې چې د عربو په ټاپو وزمه کې د توحید ملکوتي غږ انګازې پیل کړي، له هماغه ورځې تر ننه پورې داسې سرسپارلي شازلمي په هر مکان او ځای کې موندل کیږي چې په رښتیني ډؤل آزاد دي، هو داسې آزاد چې له الله عز وجل پرته د بل هیچا غلامي نه مني او د کائناتو له خالق پرته بل هیچا ته سر نه ټیټوي.

که د آزادۍ او حریت سم تعریف ته نظر وکړو نو وبه مومو چې رښتیني آزادي د هماغوی ده چې یوازې رب العالمین په وحدانیت سره مني او له هغه پرته د هیڅ زورور او طاغوتي له غږ و پیش نه ډاریږي.

د همدغه آزادۍ مفهوم رسول الله صلی الله علیه وسلم څومره ښه واضحه کړی دی چې فرمایي:(لا تَـزَالُ عِصَابَةٌ

مِن أُمَّتي يُقَاتِلُونَ علَى أَمْرِ اللهِ، قَاهِرِينَ لِعَدُوِّهِمْ، لا يَضُرُّهُمْ مَن خَالَفَهُمْ، حتَّى تَأْتِيَهُمُ السَّاعَةُ وَهُمْ علَى ذلكَ)[رواه مسلم].

ژباړه: زما د امت یوه ډله به د تل لپاره د الله پر دین جنګیږي، په دښمنانو به غالب وي، څوک یې چې مخالفت کوي ضرر به ورته نه شي رسولای، تر دې چې قیامت به راشي او دوی به همداسې وي.

تاسې وګورئ دې حدیث مونږ ته آزاد او بریالۍ ډلې والا څومره ښه په ګوته کړي دي.

معنا دا چې هغوی آزاد، غالب او پر دښمن برلاسي دي چې همېشه د الله عز وجل د دین لپاره جنګېږي، نه دا چې د آزادۍ تر کاذب شعار لاندې جهاد تعطیل کړې.

آزادي دا ده چې د کفارو په سرونو لوبې وکړې او د هغوی غوښې او هډونه وشیندې؛ نه دا چې د کفارو سره څنګل جنګیانې کوې، ورسره سیلفیانې وباسې.

آزادي دا ده چې د الله دښمنان داسې ودردوې چې راتلونکي نسلونه یې هم یاد وساتي، نه دا چې د کفارو سره په کنفرانسونو او مجالسو کې کړس کړس خنداګانې وکړې.

آزادي دا ده چې د هر طاغوت نه براءت وکړې او یوازې د الله عز وجل زور او قوت ته تسلیم شې او یوازې د هغه عبادت ته غاړه کېږدې، نه دا چې د امریکایانو زور ته تسلیم یې او د ملګرو ملتونو طاغوتي قوانینو ته دې غاړه ایښې وي.

آزادي دا ده چې د کفارو له وهلو او ډبولو وروسته اسلامي شرعي قوانین پلي کړې او د انسان په لاس جوړ شوي وضعي قوانین شاته وغورځوې؛ نه دا چې د ظاهرشاه مرتد او نورو طاغوتیانو په لاس جوړ شوي وضعي قوانین د الله عز وجل په قوانینو غوره وګڼې.

آزادي دا ده چې د ځمکې په لر او بر کې د خپل مظلوم اسلامي امت لپاره غږ او توره پورته کړې؛ نه دا چې په مسلمانانو د ظلم کوونکو تر شا ودرېږې او په اسلامي امت روان ظلم د هر طاغوتي هیواد کورنۍ چارې وبولې.

آزادي دا ده چې د ځمکې څخه د هر ډول کفر، شرک او ارتداد ټغر ټول کړې، نه دا چې د آزادۍ په نوم دې یوازینۍ دښمني له توحید سره وي او نور دې هر ډول کفر او شرک سره روغه، جوړه او ملګرتیا وي.

آزادي دا ده چې د الله عز وجل په دین کلک ودرېږې، هیڅ ډول تحریف او تغیر په کې ونکړې، د رسولو لپاره یې د سر او مال قربانۍ ته تیار شې؛ اګر که په دې لاره کې ووژل شې، بیا هم بریالى یې، ځکه د اصحاب الأخدود والا یهودو چې کله نصراني مؤمنان کندو ته وغورځول او ټول یې له یوې مخې وسیځل الله عز وجل یې په اړه وفرمایل:[ذالك الفوز الكبير] معنا همدا ستر بریالیتوب دى!

نو دا آزادي نه ده چې له یوې سیمې کفار په سمبولیک شکل په دروازه وباسې خو په کړکۍ یې بیرته راداخل کړې او ورسره سم د خپل دین، ناموس، غیرت، جهاد او سرښندنو جنازې هم پورته کړې او له خپلو دریځونو په شا وتښتې؛ بلکې انسان دې ټوټه ټوټه شي، اور ته دې وغورځول شي خو په دیني ارزښتونو باید لوبې ونه کړې.

آزادي دا نه ده چې له تا دې کفار خوشاله، راضي او خوښ وي، تاته دې امتیازات، ډالر او څوکۍ درکړي، نه بلکې دا خو د غلامۍ وروستى حد دى؛ آزادي خو دا ده چې ته دې د کفارو سره اسیر او په ځنځیرو تړلى اوسې، خو بیا دې هم کفار له تا څخه ویره او ډار ولري، ته دې په لریو پرتو دښتو، بیابانونو، غرونو او ناوونو کې زنده ګي ولرې، خو ستا د رعب او دبدبې له ویرې زرګونه میله لرې د الله عز وجل او د اسلام د سپېڅلي دین دښمنان بې خوبه وي.

آزادي دا نه ده چې ته دې په شهیدانو، اسیرانو او مظلومو بیوسو خلکو د ملګرو ملتونو سره معامله او سودا وکړې، یوه سیمه ترې د اسلامي امت سره د براءت او دښمنۍ په پایله کې واخلې او بیا هلته د آزادۍ جشنونه کوې؛ نه دا خو بعینه منافقت، خیانت، او غلامي ده؛ بلکې آزادي خو دا ده چې د هر مظلوم مسلمان خواته ودرېږې، د هر مؤمن اسیر ورور او اسیرې خور د خلاصون لپاره د هر طاغوت سره د مقابلې لپاره ټټر ووهې او دا په ډاګیز ډول ووایې چې یا به دا اسلام په ټوله نړۍ واکمنوو او یا به خپل سر او مال هم ترې قربانوو.

د آزادۍ مفهوم خلکو څومره تغیر کړى دى، څوک دا آزادي بولي چې د بین الملل له لورې د تعین شویو پولو

له داخل څخه د همدې بین الملل د اصولو په اساس انګریزان له هیواده ووتل او پرځای یې سیکولر امان الله خان واکمن شو.

څوک دا آزادي بولي چې سره روسان ووتل خو پرځای یې لوټمار، چور، چپاول، غلا او قتلونه شروع شول او د امریکا لاس پوڅي د اې ایس اې روزل شوي داړه ماران حاکم شول.

څوک دا آزادي بولي چې امریکایانو د توحید خلاف د جګړې ماموریت طالب مرتدینو ته وسپاره تر څو د مؤحدینو خلاف د امریکایي بلیک واټرو پرځای افغاني بلیک واټر وجنګېږي.

څوک دا آزادي بولي چې هندي راجاګان او سیکهان وتښتېدل خو داسې پاکستان یې وزیږاوه چې د اسلامي امت لپاره سرطان او کینسر وګرځېد او څوک بیا د آزادۍ لپاره نور مفاهیم کاروي.

خو...!

اسلامي امت به هغه آزادي څه کړي چې انګریزی استعمار په اماني سیکولریزم بدل شي.

اسلامي امت به هغه آزادي څه کړي چې د شوروي ملحدینو ستم د جهاد په نامه د ډاکوانو او غلو په تیري بدل شي.

اسلامي امت به هغه آزادي څه کړي چې د الحاد پرځای پکې سیکولریزم او نصرانیت ترویج شي.

اسلامي امت به هغه آزادي څه کړي چې د هندوییزم او سیکانو پرځای پکې دیموکراتان او جمهوریت پسند خلک د عبادت لپاره د مسجد پرځای مندر ته ولاړ شي.

اسلامي امت به داسې آزادي څه کړي چې پرمختګ پکې د اسلامي امت د سلفو او خلفو دښمنان روافض کوي.

اسلامي امت به داسې آزادي څه کړي چې امریکایي اسلام پکې د ږیر خرییلو او نیکټایي دارو دیموکراټانو پرځای ږیرور او پټکي دار اخوندان تطبیقوي.

اسلامي امت داسې آزادي څه کړي چې د وطنیت په عقیده وپالل شي او د دیني مقدساتو پرځای پکې وطني شعائر ارزښت ولري.

او اسلامي امت به داسې آزادي څه کړي چې د امت د درد دوا نه شي جوړیدای؟!!!

نو ورک دې شي د آزادۍ په نوم دا کاذب شعارونه، چې په حقیقت کې پکې د غرب او ملګرو ملتونو غلامي نمانځل کېږي.

ورک دې شي هغه آزاد خلک چې د آزادۍ په نوم شریعت تحریفوي او شرعي احکام پایمالوي.

ورکه دې شي هغه آزادي چې لا هم پکې د الله عز وجل سره د نړیوالې ټولنې طاغوت شریک ګڼل کېږي.

داسې ازادي دې هغوی ته مبارک وي چې د الله تعالی پرته د نورو طواغیتو په بنده ګۍ او غلامۍ راضي وي.

ای اسلامي امته، د جهاد په نوم د سوداګرو په دې دروغجنو شعارونو ونه غولېږئ او پوهه شي چې: که مونږ د جهاد حماسې ژوندۍ ساتلې، د شریعت تطبیق مو کاوه، د کفارو په وژلو، دردولو او تکلیفولو مو د الله عز وجل د رضایت کوښښ کاوه، د صلیبي ټلوالې او د هغوی د لاسپوڅو د لمنځه وړلو لپاره مو له هیڅ قسم وس او توان څخه دریغ نه کاوه؛ نو مونږ به آزاد، سرلوړي او د عزت خاوندان یو.

او که مو د رب پرځای طاغوت ته سر ټیټ کړ، په شریعت مو سودا وکړه، جهاد او قتال مو تعطیل کړ، بیا به ذلیله، رسوا او شرمنده یو؛ اګر که خلک مو آزاد وبولي او د ځینو نورو په څېر د آزادۍ کاذب شعارونه هم زمزمه کړو.

تاریخ هر څه په خپله سینه لیکلي او مونږ او تاسې لپاره پکې عبرت پروت دی، راځئ مخکې له دې چې مونږ د نورو لپاره عبرت وګرځو باید د رښتیني آزادۍ لپاره ګړندي ګامونه پورته کړو، د نړۍ له مخ څخه د شرک، کفر، ارتداد، وطنیت، دیموکراسۍ، سیکولریزم، اخوندیزم او هر ډول طاغوت تغر ټول کړو او پرځای یې سوچه، سپیڅلی او پاک اسلامي نظام قائم کړو، د یو بیرغ لاندې راټول شو، د یو امام سره بیعتونه وکړو او د مالیزیا څخه تر اندلسه د مظلوم اسلامي امت د لاسنیوي لپاره نه ستړی کېدونکی کار وکړو.

په ټوله نړۍ د اسلامي خلافت د قیام، استحکام او نظام په هیله

نړیوال کفري دولتونه

او که د طالبانو معبود؟

الحمد لله الواحد القهار القوي العزيز الغفار الذی يكور النهار بالليل والليل بالنهار والصلاة والسلام على من قاتل أعداء الدين من المشركين والكفار أمابعد: قال تعالى {وإذا أردنا أن نهلك قرية أمرنا مترفيها ففسقوا فيها فحق عليها القول فدمرناها تدميرا

مسلمانان عام او بیا په هغوی کې د علم او فقاهت خاوندان باید خصوصاً د الله په دین ددی نړیدونکې حملې مخه ونیسي او د الله د شریعت ددی غلط ترجماني کونکو او د اسلام د غلط تصور پیش کونکو په مقابل کې د خپل وسع او توان موافق په دی سپیڅلي جهاد کې برخه واخلی، که چرته دوی ددی په مقابل کې راپورته نشي نو دا دین به په همدې طریقې سره را روان نسل ته معرفي شي چې بیا به هغوی د دین او د بې دینۍ تر منځه هیڅ فرق نه شي کولي، أفسوس پکار دی او ډیر افسوس پکار دی او هغه دا چې که یو طرف مونږ د مسلمانانو په خاوره حاکم شوی جمهوري مرتدو نظامونو ته گورو، نو دوی د الله د شرعي حدودو مخه په یو ډول نیولې، او هغه داسې چې په خپل فرعوني زور او شیطاني دعوتونو او تبلیغاتو یې د عوامو مسلمانانو اذهانو کې دا زهر خواره کړي چې د اسلامي نظام او شرعي حدودو تطبیق دا د وخت او حالاتو سره سمون نه خوري دا د ترقۍ او پیش رفت گزیني نه لرې تر دی چې دا او ددی غوښتونکی او ددی لپاره جدّ او جُهد کونکي یې د امن سلامتیا قوم، وطن او ترقۍ دشمنان معرفي کړی دی خو بس چې چرته یې هم وینې نو وینه یې مباح او مال یې حلال او عزت لوټل یې رواه گڼي بل طرف مخنیوی د اسلام یې په دی ډول دی او دا ډیر تعجبي دی او هغه دا چې همدې طواغیتو د خپلو شخصي او شیطاني ملي فوائد لاس ته راوړو په پار چې کوم جنگونه د جهاد په نوم د طاغوت په دی لاره کې ایجاد کړی نو هغې ته په کتو اسلام ته بل ښکاره او لوی تاوان دا په نظر راغی چې په دی لاره یې د خپل جمهوري قوانینو ښه

ملاتړ وکړه او د خپلو دعوو یې ورباندې ښه تصدیق وکړه او هغه داسې چې دوی چې د اسلام د دین د نافذولو کومه دعوی کوله او د هغې په نوم یې کوم جنګ ته دوام ورکړی وه، او ددی جنګ کونکو ټوپکیانو ته یې دمجاهدینو کوم نوم ورکړی وه، نو نتیجه یې دا شوه چې نن یې د اسلام پر ځای داسې څه نافذ کړه چې که څوک ورته اسلام ووایي نو هغه پرې کافر ګرځي دا د ځمکې په سر د جمله وطني جهادیانو حال دی، چې په هیڅ چاپټ نه دی خو په دی ټولو کې چې بیا اسلام او مسلمانانو ته لوی تاوان او سخته ضربه چې ورکړه نوهغه دغه وطني طالبان دي چې خپل جنګ یې جهاد او ځانونه یې مجاهدین او اوس دا دی خپل هغه کفري او شیطاني نظام چې د اسلام سرسخته دشمنۍ کې واقع دی شرعي او اسلامي نظام ګڼي او د امارت اسلامي څخه یې تعبیر کوي، نو مسلمه ولس او بیا په دوی کې دی د علم او فقاهت خاوندان په دین اسلام دی جملې ته ښه متوجې شي که باالفرض اوس ددی مقابله ونه شی په مخالفت کې یې بالسیف یابالقلم او یا باللسان جهاد ته دوام ورنه کړای شي بس د وخت په تیریدو به دنیا ته همدا ثابته شي چې شرعي نظام فقط همدا وه چې هبة الله او طالبانو نافذ کړی وه، هغه شرعي نظام او اسلامي قانون چې پاکستان او نورو جمهوري هیوادونو یې مخالفت کاوه او کرکه یې ترینه کوله، هغه صرف د نړۍ دی نامتو مجاهدینو او غوره مؤمنانو ملاهبة الله او طالبانو نافذ کړی دی تاسو د ابلیس دا تور کرغیړن نجس سیاست ته ښه متوجې شئ د الله سبحانه وتعالی شرعي نظام دی چې د اسلامي دولت په جمله ولایاتو شام، عراق، لیبیا، خراسان وغیره دوه دیرشو ولایاتو کې د نړۍ جمله اصلي کفري او طیارې مرتدو دولتونو د هغې په مخنیوي کې خپل ټول توان سرته ورساوه د کیمیاوي ټولو اسلحو سره سره یې د بمونو مور او پلار په هغې باندې را وورو، د وخت درباري او بلاعمه صفته ملایان او شیخان یې د هغې لپاره لکه دکولال دخرونو پشان استعمال کړه، چې په څه نوم او صفت یې بدنام کړي او د نصرت او ملاتړ څخه یې مسلمانان راوګرځوي، خو نن ملاهبة الله او طالبانو د پاکستان روس چین او ایران په مرسته او تعاون نافذکړی دی!! نو ایا دا ډیره د تعجب خبره نه ده چې هلته یې مخه نیسي چاپې پرې وهي، مشران یې شهیدانوي حتیٰ ښځې او ماشومان یې بدناموي اولته دادی ددی شرعي نظام امیران او وزیران ازاد په جیګو سترګو د نړۍ کفري او مرتدو دولتونو ته سفرونه هم کوي او هغوی دلته ددوی د شرعی نظام د سوري لاندې دوی ته ملاقاتونو ته راځي بلکې هغوی لا اوس ددی نظام اقتصادي فرهنګي، تعلیمي، او نظامي اخراجات هم په خپلو ذمو او غاړو باندې اخیستې دي او ولې به داسې نه کوي! ځکه چې اوس کفري نړۍ د ملاهبة او د طالب معبود ګرځیدلی دی طالب اوس د حقیقي رب او خالق په ځای دغه کفري نړۍ خپل رب او خالق ګڼي دوي اوس د الله متعال د مرستې په ځای د سور صلیب او د رافضي مشرکانو مرستو باندې ډیر اعتماد کونکي دی هو همدا د یو چا عبادت دی چې د الله د رضا په مقابل کې د هغه رضا ولټول شي، د الله د احکامو په مقابل کې د هغه احکام نافذ شي هو همدا معبود دی چې د هغه لپاره دوستي او دشمني کیدایشی! هو همدا په الله متعال ښکاره بدګماني ده چې د هغه رالیږلي حدود

قانون، او شریعت دی د بل چا د رضاء رسمیت او خوږو حاصلولو لپاره د تطبیق د مرتبې نه وغورځول شي هو همدا د یو چا عبادت دی چې د الله نه په ویره او خوف ده ته دده نه په ویره او خوف ترجیح ورکړای شي، نن اسلام او مسلمانۍ ته په نسبت کونکو کې د اسلام او مسلمانانو سر سخت دشمنان هغه همدا طالب ملیشې ګرځیدلې چې دعوی ددین اسلام کوي خو حقیقت کې د ردة په بې شماره دروازو ورننوتې نن د دوی بدمسته مشران او رهبران دی چې د الله تبارک وتعالی د امر د منلو نه یې بغاوت کړی او د غلیظ فسق په

شدیده نوع کې څرېږي، دا خبرې که زمونږه په چا بدې لږې هغه دی لږ د الله تبارک وتعالی د رالیږلي شرعي نظام نه ځان خبر کړي او بیا دی لږ د ملاهبة الله د نافذ کړي نظام جائزه واخلي، ځکه هغه نظام چې الله رالیږلی وه او محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم نافذ کړی وه، او د هغه نه بعد خلفاء راشدینو او روسته نورو خلفاءوو نافذ کړی دغه کس دی په سلو کې صرف یو فیصد له هغه نظام نه د طالب په نظام کې مونږ ته راوښایي هغه حدود ولې دا دی د دوه کلونو په تیریدو هم د طالب په دی شرعي نظام او اسلامي قانون کې ونه لیدل شو؟ نو مناسب ګڼم چې په دی لږ مختصر تفصیل د مسلمانانو مخې ته عرض کړم.

د زناء حد او د ملاهبة الله انکار..!

د امارت وطني میډیا بار بار په مختلفو ولایتونو کې د سلګونو زناکارو د بالفعل ګرفتارۍ اعلامې خپرې کړې، حتیٰ چې دغه ډول مجرمانو کې یې د خپلو ادارو لوړ رتبه مأمورین هم وه، دا چې دعویٰ د شرعي او اسلامي نظام کوي، او ځانونه مجاهدین بولي نو ددی دعوې په تقاضاء باید په

ستره محکمه
د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست
در ولایت جوزجان بالای دو تن از متهمین
فعل زنا حکم جزای تعزیری تطبیق شد

دی مجرمینو د الله تبارک وتعالی رالیږلی قانون او شوی فیصله تطبیق شوی وای، محصن به دوی کې رجم او غیر محصن سل سل دوری وهل شوی او یو کال له خپل کلی شړل شوی وای، خو ددوی ددی دعوې باوجود د زنا یو حد په دوي باندې نافذ نه شو دا ولی؟ وجه څه ده؟ علت څه دی؟ ځکه امارت وطني چې د لوګر په لوبغاړي میدان کې د شرعي حدودو په نوم د کومې ډرامې قسط وچلاوه، چې مطلقاً یې زانیانو ته دیرش دیرش کوړې ورکړې نو دا هرګز شرعي حد نه وه، او نه چرته په اسلام کې کوم مسلمان فقیه او مجتهد په اجتهادي خطا کې هم په دی قول نه دی کړی ځکه دی باب کې د رب غوڅ او قاطع حکم او پریکړه موجوده ده الله تبارک وتعالی په سورَةُ النُّور ۲ نمبر ایت کریمه کې فرمایی:

{الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وٰحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْءَاخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ}

(ژباړه) زناکاره ښځه او زناکار سړی، له دواړو څخه هر یو سل دُرې ووهئ، او وه دی نه نیسي تاسو لره نرمي کول په دوی باندې دی په (نافذولو) دین د الله کې که تاسې چرته په الله تعالیٰ او د اخرت په ورځ باندې ایمان لرئ، همدا راز هغو ته د سزا ورکولو په وخت کې دي د مؤمنانو یوه ډله هم موجوده وي.

دا شو د الله په شریعت کې دورې وهل د زناکار سړي او زناکارې ښځې لپاره چې د احادیثو او صحابه کرامو د معتقداتو او معمول نه همدا معلومیږي چې دا حد د هغو زانیانو دی چې هغوی غیر محصن یعنې بې نکاح وي، هاکه چرته دوی د نکاح لرونکی وي، نو بیا د شریعت له مخه ددی سزا رجم دی او دا خو په لسګونو احادیثو کې ثابت ده چې واده کړی به رجم کیږي، او ناواده کړی نارینه او زنانه به سل کوړې خوري البته نارینه به یو کال د علاقې نه هم شړل کیږي او همدې ته نبي صلی الله علیه وسلم د الله متعال حکم او د هغه په کتاب فیصله ویلې ده صحیح البخاری کې روایت دی چې رسول

الله صلی الله علیه وسلم د مزدور پلار ته چې د هغه زوی د خپل مالک یعنې د بادار د ښځې سره زنا کړې وه، همدا فیصله اورولې وه، چې زوی یې ورته سل کوړې وواهه، او یو کال یې د کلي نه وشړه، او د بادار ښځه یې چې واده لرونکې وه نو ددی په وجه یې په هغې د رجم فیصله وکړه، او د همدې فیصلې نه مخکې ورته نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل:**(والذي نفسي بیده، لأقضین بینکما بکتاب الله)**(ژباړه) قسم په هغه ذات چې زما روح د هغه په لاس کې دی زه به خامخا ستاسو تر منځه د الله په کتاب فیصله کوم، او بیا یې دا فیصله وکړه نو اوس دی کتونکي وگوري چې د ملاهبة الله او د نړۍ د جمله کفارو سره دده دوستي لرونکی دا شرعي نظام د الله د کتاب دا حکم تر ننه په عمل کې راوستی دی؟

نه بلکې دغه د معبود حقیقي قاطع حکم او امر اوس د باطل معبود ملل ملحده په حکم او امر او د هغوی د رضا د لټون او د رسمیت د حصول په پار په دیرشو کوړو باندې بدل شوی دی نو اوس دی یو کتونکی د ملل ملحده د راضي کیدو او خوشحالیدو په پار د دوی د الله سبحانه وتعالی دا صریح مخالفت او د هغه د شریعت تحریف او تبدیل ښه واضح وگوري او بیا دی ووایي ایا ایمان د دی تقاضا کوي چې د هغه د رب د شریعت سره دی د اسلام او شرعي نظام په نوم داسې ظلم کېږي او هغه دی کفر باندې خاموش پاتې شي ایا که ددی په خلاف قیام کونکی په قیام او غبږ پورته کیدو قادر وي او دا یې خلاف قیام نه کوي غبږ نه پورته کوي نو دغه خاموشي او چپ پاتې کیدل به په کفر اقرار نه حسابیږي؟

د غلا حد او د ملاهبة انکار..!

دغه ډول د مسلمانانو د عزتونو نه بعد د هغوی د مالو د ساتنې په پار الله متعال په خپل کتاب او نبي صلی الله علیه وسلم په خپل سنت کې د غل نارینه او غلې زنانه نه ښي لاس په بند کې د کټ کولو امر صادرکړی دی، رب کریم او معبود حقیقي دغه حکم په سورة المَائدة ۳۸ نمبر ایت کریمه کې داسې بیانوي:**{وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوٓا أَيْدِيَهُمَا جَزَآءً بِمَا كَسَبَا نَكَٰلًا مِّنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ}** (ژباړه) او غل که نر وي او که ښځه، د دواړو لاسونه پرېکړئ، دا د هغوی د خپلې کړنې بدله او د الله له لورې د عبرت وړ سزا ده، د الله قدرت پر ټولو غالب دی او هغه د پوهې او حکمت خاوند دی، دا شو د الله رب متعال هغه رالیږلی اسماني حکم چې د غل نه پکې د لاس د قطع کولو امر شوی دی او دغه امر نبي صلی الله علیه وسلم داسې لازم گڼلی فرمایي:**(والذي نفس محمد بیده، لو أن فاطمة بنت محمد سرقت لقطعت یدها)** (ژباړه) قسم په هغه ذات چې د.محمد روح د هغه په اختیار کې دی که چرته فاطمه لور د محمد هم غلا وکړي نو خامخا به یې لاس قطع کوم ”متفق علیه ” خو کتونکي دی نن د ملاهبة الله دا شرعي نظام ښه وگوري لټ په لټ دی واړوی دوی دی ددی دوه کالو په موده کې مونږ ته صرف یو غل داسې راوښایي چې طالبانو هغه نه د غلا په وجه لاس قطع کړی وي؟


قضائیه قوه
Judiciary of the Islamic Emirate of Afghanistan

د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست
۱۴۴۴ / ۵ / ۱۴

پکتیکا ولایت کې درېیو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

پکتیکا ولایت کې په 3 /5 / 1444 هـ ق نېټه د شرعي ښاري ابتدائیه محکمې د جزاء دیوان په حکم د دغه ولایت مرکز ښرنې په ورزشي سټېډیوم درېیو مجرمینو ته د غلا په جرم تعزیري سزا ورکړل شوه.

مجرمینو ته د تعزیري سزا د تطبیق په مناسبت جوړو شوو دغه مراسمو کې د پکتیکا والي محترم عبدالله«مختار»، د پکتیکا د استیناف محکمې رئیس محترم مولوي امان الله«منقاد حقاني»، د ښاري محکمې رئیس محترم مولوي محمد اشرف «ابوخالد»، د جزاء دیوان رئیس محترم مولوي فال محمد«حاذق»، د استیناف او ښاري محاکمو قضاتو او عامو خلکو گډون درلود.

د پکتیکا د استیناف محکمې رئیس محترم مفتي امان الله«منقاد حقاني» یادې ناستې ته د قضاء د اهمیت په هکله وویل، د اسلامي نظام لپاره قضاء د روح حیثیت لري.

دغه راز محترم مفتي منقاد حقاني د قضاء د یو شمېر حکمتونو او مسؤولیتونه (اظهارالعدل، دفع الظلم، انصاف المظلوم من الظالم، ایصال الحق الی المستحق و امربالمعروف و نهي عن المنکر) په اړه تفصیلي خبرې وکړې.

دغه راز د پکتیکا والي حاضرینو ته د اسلامي نظام د اهمیت او ارزښت په اړه وینا وکړه ووېل، افغانستان کې حاکم اسلامي نظام د میلیونونو شهیدانو د قربانیو په برکت واک ته رسېدلی دی، او دا د شکر ځای دی چې نن شرعي محاکم د شریعت مطابق فیصلې کوي.

د پکتیکا والي په خپلو خبرو کې له محاکمو سره د ولایتي ادارو د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ ووېل، موږ به د محاکمو ملاتړ او همکاري کوو، ترڅو مو نظام شفاف او قوي شي.

Supreme Court of Afghanistan Supremecourt.gov.af @supremeCourt_af

او ولې او څنګه به داسې کوي ځکه دا خو د الله سبحانه وتعالی طاعت او عبادت حسابيږي او دوی که د هغه د اطاعت او عبادت وکړی نو بيا د دوی رب او معبود باطل ملل ملحده ناراضه کېږي، ځکه چې د دوی دا شرعي حد عملي کول بيا د هغه سره دا کار د شرک په زمره کې راځي نو بس چې دغه خپل رب او معبود باطل ملل ملحده څنګه خوشحال او راضي کړي چې دا د دوی د مشر او کشر د ژوند د ټولو ارمانونو څخه لوی ارمان او ارزو ده، نو راولګيدل او د معبود برحق الله تبارک وتعالی دغه پاک سپيڅلی امر او حکم يې هم تحريف او تبديل کړه او د غل قطع د يد يې ورته په څو د شمار په کوړو او د څو ورځو په زنداني توب ور بدله کړه خو بيا هم سپين سترګي دی حد ته رسي چې ددی کفري نظام نه تعبير په اسلامي نظام سره کېږي.

د قتل حد او د ملاهبة الله انکار..!

دغه ډول د شرعي نظام ددی نافذونکو اتلانو په دی شرعي نظام کې خو قتلونه بې شماره کېږي او داسې هم نه ده چې دوی تر ننه کوم قاتل نه وی نيولی بلکې ډيری يې خپله اعلان کړه، چې دوی بالفعل وروسته د قتل څخه متصل نيولي دي خو د سورة البقرة د ۱۷۸ نمبر ايت کريمه د هغه حکم عملي بيلګه تر ننه د دوی نه چا ونه ليده د کومې مطالبه چې الله متعال کړې ده چې هغه د قاتل نه د مقتول قصاص اخيستل وغيره دي دا ولې؟ دا ځکه چې اقوام ملحده ناراضه کېږي ځکه د هغوی رسميت ترلاسه کول لکه مونږ دا خبره مخکې هم بار بار وکړه، د ملاهبة الله هغه ضروري حاجت دی چې که ددی په پوره کولو کې قران اُور اخلي وا دی خلی، که د الله تبارک وتعالی مخالفت او د هغه د حکم تعطيل راځي دا هيڅ خبره نه ده، که الله خفه کېږي يو زر ځلې دی خفه شي خو چې د دوی معبود باطل ملل ملحده راضي شي ځکه د دوی دا ارمان تمناء ارزو او خواهش پوره کول اوس د اسمی الغايات د قبيلې څخه ګرځيدلی دی.

د قذف حد او د ملا هبة الله انکار..!

د قران ددی صريح حکم چې د قذف حد دی هغه هم هيڅ ځکه چې د زنا تهمتونه لږونکي ښه پريمانه دي خو بيخي ګناهګار نه ګڼل کېږي او د هغوی د حد باره کې د سورة النور ۴ نمبر


قضائيه قوه
Judiciary of the Islamic Emirate of Afghanistan

دافغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست
۸/ ۱۲/ ۱۴۴۴

د زابل ولايت شهر صفا ولسوالۍ کې د مقتول کورنۍ قاتل ته ښښنه وکړه

نن دوشنبه د ۱٤٤٤ هجري قمري کال د ذوالحجې مياشتې په ۸مه نېټه د زابل ولايت د شهر صفا ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې په هڅو او منځګړيتوب د مقتول کورنۍ يوه قاتل ته ښښنه وکړه.

د قتل ياده پېښه تقريبا يوه نيمه مياشت مخکې د موټرسايکل او باروړونکي(ټېلر) موټر د ټکر له امله رامنځته شوه چې په نتيجه کې يې پر موټرسايکل سپور کس (خان محمد د ګلاجان زوی) د ټېلر موټرچلوونکي (رازمحمد د عبدالمجيد زوی) لخوا په شهادت رسېدلی و.

د يادې پيښې دوسيه په رسمي ډول محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه.

ياده موضوع نن د شهر صفا ابتدائيه محکمې په وسيله حل او د متقول کورنۍ له قاتل څخه د ديت ترلاسه کولو وروسته قاتل ته ښښنه وکړه.

Superme Court of Afghanistan Supermecourt.gov.af @supremeCourt_af

ستره محکمه
د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

د پکتيا ولايت مرکز ګرديز ښاري ابتدائيه محکمې دوه تنه مجرمينو ته د غلا په جرم تعزيري سزا ورکړه.

ايت کريمه چې اتيا (۸۰) کوړې وهل دي ددې نه خو خبر هم نه دي او خبر به ترې هم نه شي، ځکه چې دا د قرآن حکم دی او دوی د قران د فرموداتو په ځای ايمان په اقوام ملحده او د هغوی په مادو او فرموداتو راوړی دی الله اکبر.

د شرابو حد او د ملاهبة انکار..!

امارت وطني د پورته ذکر شوو حدودو غونډې د شرابو شرعي تعزير هم د عملي کولو د لياقت څخه بلکُليه غورځولی دی دوی ډيری شرابيان هم د شرابو سره ونيول، خو د معبود حقيقي رب متعال هيڅ امر او حکم يې تر ننه ور باندې تعميل نه کړ، داسې چې ګويا شرابيان خو بيخي ګناهګار نه دي د هغوی باره کې دغه متفق عليه روايت چې له أنس بن مالك رضي الله عنه څخه نقل دی چې (**أن النبي صلى الله عليه وسلم ضرب في الخمر بالجريد والنعال، وجلد أبو بكر أربعين**) (ژباړه) بې شکه نبي صلى الله عليه وسلم په شراب څکولو (شرابي) په لښتو او پڼو باندې وهلی او ابوبکر څلويښت کوړې وهلی دی.



د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست
۱۴۴۴/۵/۷

د کابل ښاري ابتدائيه شرعي محکمه کې 21 مجرمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

نن پنجشنبه (7/ 5 / 1444هـ ق) نېټه د کابل ښاري ابتدائيه شرعي محکمه کې 21 مجرمينو ته چې 15 يې نارينه او شپږ يې ښځې وې، د فسق او فجور، نامشروع اړيکو، غلا، له کوره د تېښتې، شراب څښلو او لواطت په جرمونو د محاکمو او نورو ولايتي ادارو د مسؤولينو او عامو خلکو په حضور کې تعزيري سزا ورکړل شوه.

يادو مجرمينو ته د تعزيري سزا د ورکولو په مناسبت جوړ شوي پروګرام ته چې د قرانکريم د مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شو، د سترې محکمې څخه د راغلي پلاوي مشر او د جزاء ديوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله درويش صاحب وينا وکړه وويل، د ځمکې پر مخ مختلف اديان، مذاهب او د بشر په لاس جوړ شوي نظامونه او قوانين موجود دي، خو الله تعالی ته په دې ټولو کې خوښ شوی او غوره دين او نظام اسلام دی.

نوموړي زياته کړه، اسلام د ژوند ټېرولو په هره شعبه کې که هغه حکومت دی که حکومتداري ده، که سياست دی، که معاشرت دی، که په ټولنه کې سکونت دی، که عبادات، معاملات او نورې برخې دي، په دغو ټولو برخو کې اسلام د انسانيت لپاره بې مثاله قوانين او اصول وضعه کړي دي.

محترم مفتي درويش صاحب وويل، د اسلام په مبارک دين کې مقرر شوي اوامر، فرايض، منهيات، حدود، قصاص، تعزيرات او نورې سزاګانې د انسانيت او امت لپاره رحمت دی، چې د همدغه سزاګانو په تطبيق سره ټولنه کې امنيت او سکون رامنځته کېږي.

ورپسې د دويم زون د ابتدائيه محکمې عمومي رئيس محترم مفتي ذبيح الله ساجد، د دويم زون د جزاء ديوان رئيس محترم مفتي هدايت الله رحماني او د کابل ولايت د لومړي زون د رئيس محترم مفتي عزيزالله تقي صاحب لخوا د مجرمينو د قضيو خلاصه بيان او مجرمينو ته ټاکلې تعزيري سزا ورکړل شوه،

مجرمينو ته د تعزيري سزا ورکولو په مناسبت دغه جوړ شوی پروګرام د کابل ولايت د څلورم زون د رئيس محترم مفتي عبدالرحمن عزيزي صاحب لخوا د دعاء په ويلو سره پای ته ورسېد.

د يادونې وړ ده چې د يادو مجرمينو قضيې د کابل ولايت د دويم او لومړي زونونو د ښاري ابتدائيه محاکمو لخوا په شرعي توګه څېړل شوې وې او ټولو مجرمينو په دې سزا رضايت درلود.

Superme Court of Afghanistan Supermecourt.gov.af @supremeCourt_af

نو پوښتنه مو همدا ده، نن په کوم شرابي دوی دا حد جاري کړه، بيا به ووايم چې دوی خو په کابل وغيره ولاياتو کې شرابيان او شراب فروشان په داسې حال کې ونيوه چې ددی سره يې د زنا لپاره فاحشې زُناتې هم راوستې وی خو د الله تبارک وتعالی د نبي صلى الله عليه وسلم دغه حکم ور باندې عملي نه شو دا ولې؟ دا ځکه چې دا د دوی د معبود ملل ملحده وو د فرمان او احکامو نه مخالف دي.

د لواطت حد او د ملاهبة الله انکار

لواطت يو هغه مهلک ګنده او ناولی خطرناک جرم دی چې د ځمکې په مخ په فحشاء کې د ټولو نه ګنده قبيح او خطرناک دی که دی باب کې د ايمان نه راغلی د معبود حقيقي سبحانه وتعالی شريعت وګورو نو ددی جرم مرتکب ته يې ډيره لائق او مناسب سزا معين کړی ده، چې هغه کونکی او چاسره چې کيږي د دی دواړو قتلول دي!

خو که باالطرف مسلمانان د وطني طالبانو د برای نام شرعي نظام لږه جائزه واخلي نو هغې کې ددی حد هم پوره مخه نيول شوی ده، ځکه چې دا يې هم لکه د مخکې حدودو غونډې تبديل کړې دی او دا هم څه الزام او بې دليله خبر نه کوو ځکه دا خو تقريباً هر چا په سترګو وليده او په غوږونو يې واوريده چې د دی سلامي امارت طالبانو چې په عامو محضرونو کې د شرعي حدودو په نوم لوطيانو ته کومې سزاوې ورکړی هغه همدا وې چې دوی يې نهه ديرش ۳۹ نهه ديرش ۳۹ کوړی ووهل فقط او بيا د تعجب د پاسه تعجب او د افسوس د پاسه افسوس


قضائیه قوه
Judiciary of the Islamic Emirate of Afghanistan

د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست
۱۴۴۵/۱/۱

د لغمان ولایت د ښاري محکمې له لوري د لواطت په جرم دوه تنه متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

نن سه شنبه د ۱۴۴۵/۱/۱ هـ ق نېټه د لغمان ولایت د مرکزي عیدگاه مسجد ته څېرمه د لغمان ولایت د ښاري محکمې له لوري دوه تنه متهمینو ته چې د لواطت په موضوع متهم وه، سزا ورکړل شوه.

د یادو متهمینو نسبتي دوسیې د لغمان ولایت ښاري ابتدائیه محکمې ریاست د جزا دېوان لخوا وڅېړل شوې، چې په اساس یې پرېکړه په یو یو کال بند او ۳۰-۳۰ دورو په وهلو وشوه، چې د مرافعه محکمې جزا دېوان له لوري هم په همدې ډول فیصله وشوه، وروسته د دوسیو ټول اصولي مراحل د سترې محکمې لوړ مقام له هدایت سره سم طی شول.

په دې مراسمو کې د لغمان ولایت د مرافعه محکمې رئیس په شمول گڼ شمېر دولتي مسؤلینو او عامو هیوادوالو گډون درلود.

غونډه د دعائیه په ویلو سره پای ته ورسېده.

Superme Court of Afghanistan Supermecourt.gov.af @supremeCourt af

دا دی چې کله دوی په لوگر وغیره کې په زناتو لوطیانو سارقینو شرابیانو او نورو مجرمینو باندې د خپل معبود ملل ملحدوو دا شیطاني احکام تطبیق کړه، نو اعلامیه یې د شرعي حدودو د تنفیذ په نوم خپره کړه او د دوی ترمنځه نو بې علمه کشرخیلو خپلو کې یو بل ته د شرعي حدودو د تنفیذ مبارکیانې او خپل شیطاني امارت ته د اسلامي امارت په فکر او گمان د بقاء او استحکام دعاوې هم کولې خو قسم بالله ډیر درد محسوس شي چې ددی دومره لوی صریح کفر او ردة او د الله تبارک وتعالی او د هغه د رالیږلي نبي محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د احکامو او حدودو پسې داسې رسمي طور سره ملنډې ووهل شوی، استهزاء پرې وشوه، د شریعت په نوم داسې شیطانیت نافذ او د شریعت څخه تعبیر شو خو ددی هر څه باوجود د امت اهل علمو داسې خاموشي غوره کړه چې گویا یا خو یې خولو کې ژبې نشته او یا یې په قران او سنت کې هغه حدود لیدلې نه دي چې ملاهبة الله پرې نن داسې ملنډې شروع کړې دي.

هو زه بیا دا وایم او په دی ویلو کې حق لرم حق په جانب یم او د خپل رب او معبود حقیقي الله تبارک وتعالی نه پرې د لوی اجراو احسني بدلې امید لرم ان شاء الله تعالی او هغه وینا مې دا ده چې دا کومه لوبه چې ملا هبة الله او د هغه شیطاني امارت د حدودو په نوم ولوبوله، نو دا قطعاً شرعي حدود نه وه، بلکې دا شیطاني بین المللي دجل وه، چې د بې علمه مسلمانانو په سترگو کې یې ورته خاورې واچولې! د نورو حدودو خو مخکې مونږ تفصیل وکړه، اوس دلته راځو د لواطت د حد مسألې ته ځکه د لواطت حد هم یو معلوم او ښکاره حد دی راځئ چې لږ د دی نه هم ځان خبر کړو چې د لواطت هغه حد چې په شریعت کې بیان شوی او صحابه کرامو دغه حد نافذ کړی دا څنگه دی نو واورئ د لواطت هغه حد چې نبي صلی الله علیه وسلم بیان کړی هغه قتل دی فقط په سنن ابنِ ماجه کې په نمبر2561 باندې روایت - ابن عباس رضي الله عنهما فرمایي: چې بې شکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:**(من وجدتموه يعمل عمل قوم لوط، فاقتلوا الفاعل والمفعول به)**(ژباړه) څوک چې تاسو داسې مونده کړئ چې هغه د لوط (علیه السلام) د قوم عمل کولو نو بس کونکی او چاسره چې کیږي دواړه قتل کړئ! دلته ښه وگورئ نبي صلی الله علیه وسلم د لواطت کونکو لپاره حد قتل گرځولی دی خو دا چې د نبي صلی الله علیه وسلم په موجوده گۍ کې دغه ډول واقعه نه وه پیښه شوی چې د هغوی د قتل کیفیت امت ته واضح شوی وای نو بیا چې وروسته د صحابو په دور او راشده خلافتونو کې داسې خلق وموندل شو، نو بیا د نبي صلی الله علیه وسلم د

صحابو رضي الله عنهم نظريه د دوى د قتل په كيفيت كې اجتهادي وګرځيده

(۱) د ابوبكر رضي الله عنه په دور الخلافة كې چې كله لوطي وموندل شو نو هغه د صحابه كرامو شورا طلب كړه نو دوى دى فيصلې ته ورسيده چې دادى په اور وسوځول شي او دغه فيصله څلورو خلفاء وه، دمسلمانانو په لواطت كونكې باندې كړى ده ابن القيم رحمه الله په روضة المحبين صـ۳۷۱ كې فرمايې:**(وحرق اللوطية بالنار أربعة من الخلفاء أبو بكر الصديق وعلي بن أبي طالب وعبد الله بن الزبير وهشام بن عبد الملك)**(ژباړه) او لوطي په اور باندې څلورو خلفاوو سوځولى دى چې يو ابوبكر صديق، بل على بن ابى طالب، بل عبدالله بن الزبير، او بل هشام بن عبدالملك دى دا شو د لوطي د قتل متعلق يو نظر د صحابه كرامو

(۲)راڅو دويم نظر ته: دويم قول د صحابوو په كيفيت د قتل د لواطت كونكي كې دا دى چې دادى رجم كړاى شي تر دې چې مړ شي دا واده كړى وي او كه نا واده كړى او دا قول د عمر بن الخطاب او ابن عباس رضي الله عنهم دى او همدا يو قول د علي رضى الله عنه څخه هم ذكر شوى چې د هغه د تحريق بالنار په شان دا نظر هم دى چې رجم دى هم شي

(۳) قول او نظر په كيفيت د قتل د لوطي كې دا دى چې دا دى يو اوچتې ابادۍ ته پورته كړاى شي او د هلته نه دى راوغورځولى شي او بيا دى د پاسه په كاڼو هم وويشتلى شي او دا هم د ابوبكر او ابن عباس رضي الله عنهم څخه نقل دى چې دا په سنن الكبرىٰ ۸/۲۳۲ كې ذكر دى دغه ډول وګورئ نيل الأوطار ۷/۱۲۳ دا شو دريم قول په باره د كيفيت د قتل د لواطت كونكي كې

(۴) څلورم قول دادى چې دا به د ديوال لاندې كيداې شي او په دى كيفيت به قتل كيداى شي او دا هم نيل الأوطار كې امام شوكاني رحمه الله په ۷/۱۲۴ كې د عمر، على، او عثمان رضي الله عنهم څخه نقل كړى

(۵) قول دادى چې د دوى ترمنځه به فرق كيداى شي واده كړى به رجم كيداى شي او نا واده كړى به سل دورې وهلى شي دوى دا د زناة په حكم كې اخيستى دى، او دا قول هم يو د خليفه ابن زبير رضي الله عنها قول دى كما فى روضة المحبين صـ۳۶۴

دا شو عزتمندو د لواطت حد او د لواطت كونكي د قتل د كيفيت متعلق د رسول الله صلى الله عليه وسلم د صحابه كرامو اقوال چې د ټولو اتفاق او اجماع ده په دى چې دغه لواطت كونكى به په هر صورت كې قتلولى شي بيا دغه قتلول هر د وخت امام او خليفه حالاتو او زجر ته په كتو سره په مختلفو مختلفو طريقو سره كړى دى كوم چې مونږ ستاسو مخې ته عرض كړه، چې ابوبكر علي بن ابى طالب او عبدالله بن زبير رضي الله عنهم اجمعين او خليفه هشام بن عبدالملک لواطت كونكى په اور كې ژوندى سوزولى دى دويم نظر دا دى چې دادى رجم شي او په رجم دى قتل شي بغير ددى فرق نه چې محصن دى كه غيرمحصن او دا د خليفه راشد عمربن الخطاب او ابن عباس رضي الله عنهم قول دى او دغه يو قول د خليفه راشد علي رضي الله عنهم هم دى دريم قول دصحابو د لواطت كونكې د قتل كيفيت كې چې ذكر شو هغه دا وه چې دادى يوې اوچتې آبادۍ او بناء ته پورته كړاى شي او له هغې ځايه دى راوغورځول شي او دا هم يو قول د ابوبكر صديق او يو قول د ابن عباس رضي الله عنهم دى او څلورم قول په كيفيت د قتل كې د صحابو دا وه چې دا دى د ديوال نه لاندې شي او دا د خليفه راشد عثمان او يو قول د خليفه راشد عمر او يو قول د خليفه راشد علي بن ابى طالب رضي الله عنهم دى او پنځم قول مو درته د ابن زبير رضي الله عنه څخه

دا ذکر کړه چې هغه لواطت کونکی د زناتو په حکم کې اخیستی او د هغوی حدود یې ور باندې جاري کړي سره ددی چې دده نه یو قول په سوځولو د لواطت کونکو هم ثابت دی نو که اوس یو کتونکی دی اقوالو ته وگوري په دی به پوه شی چې صحابه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول په ټوله په دی متفق وه، چې لوطي حد لري او حد یې قتل دی البته د دوی ترمنځه اجتهادي اختلاف هغه صرف په کیفیت د قتل کې وو چې باید څنگه قتل شي، ځکه خو ابن القیم رحمه الله فرمایي: (**فالصحابة اتفقوا على قتل اللوطي وإنما اختلفوا في كيفية قتله فظن بعض الناس أنهم متنازعون في قتله ولا نزاع بينهم فيه إلا في إلحاقه بالزاني أو قتله مطلقا**) (ژباړه: صحابو اتفاق کړی وه په قتلولو د لوطي کې بې شکه دوی چې اختلاف کولو نو هغه په کیفیت د قتل د هغه کې وه نو بعضو خلکو دا سوچ کړی چې دوی یې په قتل کې اختلاف کونکی وه، او حال دا چې دوی اختلاف نه لرلو مگر یو صورت کې چې هغه دا وه چې دادی د زناتو غوندې وگڼل شي او که نه مطلقاً دی قتل شي روضة المحبين ص۳۶۴ دلته دی دا خبره هم قابل د اوریدو وي چې مسلمانانو ته فائده ورسوي او هغه دا چې د لواطت کونکو الحاق د زناتو سره او په دوی د زناتو احکام او حد جاري کول دا ډیر غوره نه ښکاري او ددی څو وجوهات دي

(١) اوله وجه داده چې دی باب کې د نبي صلی الله علیه وسلم نه ددوی متعلق صرف د قتل حکم ذکر دی او د زناتو حدود ددې حد نه جدا او مستقل ذکر دي

(٢) دویمه وجه داده: چې څومره مسلمانان د لوطي د حد متعلق مصدر ته رجوع کوي نو هغه همدا د ابن عباس رضي الله عنهما حدیث دی هیڅ چا دا ندي ویلي چې د لواطت حد همدا د قران ایاتونه او یا د زناتو باره کې نور راغلي احادیث دي.

(٣) وجه داده چې لواطت ډیر قبیح او شنیع دی د زنا څخه او دا هغه څه دي چې قران ور باندې تصریح کړی ده نو د دوی باید احکام او حدود هم فرق ولري الغرض: دا وضاحت مو ځکه لازم وگڼه چې هسې نه چې سبا ملاهبة الله او طالبان ونه وایي چې مونږ د عبدالله ابن الزبیر په فتوی چې بنا بر یو قول د هغه ده چې هغه کوړې دي نو مونږ هم کوړې ورکړې دی نه هیڅ کله نه که چرته دوی دا هم ووایي نو بیا به هم دروغجن وي د څو وجهونو (١) وجه داده چې: دلته خو صرف د لواطت د حد تبدیل او تعطیل خبره نه ده چې گویا طالبانو صرف دا نه دی عملي کړی او نور یې نافذ کړي او جاري کړي دي

(٢) ابن الزبیر رضي الله عنهما دغه قول هم مطلقاً داسې نه دی چې گویا صرف کوړې به ورکوی شي نه بلکې د هغه نه خو داسې نقل دي چې واده کړی محصن به رجم کیدای شي او ناواده کړی به سل کوړې وهي، او یو کال به له کلي شړلی شي

(٣) او بل دا چې د ابن زبیر رضي الله عنهما نه بل قول په سوځولو د لوطي هم نقل دی، نو اوس دی طالبان دا وضاحت وکړي چې دوی چې لواطت کونکو ته څه دپاسه دیرش کوړې ورکړې دا واده کړی وه او که ناواده کړی؟ او دا قول په اسلام کې د کوم مسلمان دی چې هغوی ستاسو دغه کړنه باندې قول کړی وي؟ د یو نوم دی صرف دوي واخلی، اوس دی مسلمانان دالله عزوجل د شریعت دا حکم او حد وگوري او بیا دی دی باب کې د ملاهبة الله او د طالبانو د شرعي نظام او په هغې کې دی ددی شرعي حدودو تبدیل او ددی پسې خندا او مسخری وگوري او بیا دی لږ ددی طالبانو نه وپوښتي چې ایا شرعي نظام همداسې وي؟ اسلامي نظام همداسې وی؟ چې د الله او د هغه د رسول صلی

الله علیه وسلم بیان کړی او واضح کړی حدود په کې داسې مسترد کېږي چې هیڅ حیا او خوف پکې نه محسوسوي بیا لا هبة الله امیرالمؤمنین او نظام یې شرعي او اسلامي ایا کوم نظام کې چې د الله د حدودو پر ځای د ملل ملحده قوانین او فرامین نافذیږي د الله د رضاء په ځای په کې د ملل ملحده رضا لټول کېږي. دا اسلامي نظام وي؟ دا شرعي نظام وي؟ نه کلا وحاشا که د طالب نظام صرف په نوم چې اسلامي امارت دی او یا صرف په بیرغ چې کلمه پرې نقش ده په دی باندې اسلامي او شرعي نظام وګڼل شي نو بیا خو ددی نه مخکې د افغانستان حکومت هم باید اسلامي وګڼل شي ځکه که دا امارت اسلامي وي، نو هغه جمهوري اسلامي وه، که دا بیرغ باندې کلمه لري نو هغې بیرغ هم کلمه لرله، دغه ډول جمله مرتد حکومتونه د جمهوریت سره سره د اسلامیت دعوی هم کوي کوم حکومت دی چې هغوی ځانته اسلامي نه وایي نو بیا خو تش په دی نوم باید دا ټول اسلامي او شرعي وګرځول شي، خو لکه ځنګه چې هغوی محض په دی نوم او دعوی اسلامي او شرعي نه شي ګرځیدای بعینه دغه ډول د ملاهبة الله امارت هم شرعي او اسلامي نه شي ګرځیدای.

ملا هبة الله او د کوکنارو او چرسو قیصه..!

دغه ډول مسلمانان لږ دیته هم متوجي کیدل پکار دي او دا هم د طالبانو په حق کې بدیهي ده چې کله نه دوی په افغانستان کې د ړومبی امارت د سقوط نه بعد دوباره ددی چوکۍ او اقتدار لاسته راوړه دغه وخت دوی جنګ ته د جهاد په نوم ادامه ورکړه نو ددی جنګ تقریباً شپیته سلنه برخه د کوکنارو او چرسو په پیسو باندې چلیدله د دوی ددین یوعجیبه فتوی دا هم وه چې دوی به په کوکنارو او چرسو کې عشر او زکاتونه هم اخیستل او دغه پیسې به یې بیا په دی سپیڅلي (ناولي) جهاد کې مصرف کولې او ددی هر څه باوجود یې دعوی د اسلامي نظام د نافذولو او د شرعي احکامو د تطبیقولو کوله، خو د کوم شریعت دعوی یې چې کوله د هغې شریعت له رویه د دوی دا کار غلیظ حرام او ناجایز وه خو دوی ددی باوجود حلال ګاڼه، نو په دی لحاظ سره د دوی دا کار کفر وه، چې په دی سره دوی د اسلام له دائرې څخه وتلی وه، بغیر له دی چې دا نور نواقض یې پام کې ونیولی شي،

نو دوی چې د کومو کوکنار او چرسو کشت او کار او په هغې کې عشر جایز ګڼه، راشئ لږ د معبود حقیقي الله تبارک وتعالی په شریعت کې ددی حُرمت هم وګورئ: صحیح مسلم کې په ۳۷۴۲ نمبر باندې روایت دی:**(عَنْ ابْنِ عُمَرَ ، قَالَ : وَلَا أَعْلَمُهُ إِلَّا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ :" كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَكُلُّ خَمْرٍ حَرَامٌ ")**

ژباړه: ابن عمر رضي الله عنهما فرمایي: چې ماته نه دی معلوم دا قول مګر د نبي صلی الله علیه وسلم نه چې هغه فرمایلي چې هر نشه راوړونکی شی دا شراب دي او هر قسم شراب دا حرام دي وګورئ دی حدیث کې هر هغه شی چې دا نشه راولي دا د شرابو په حکم کې ګرځیدلی او بیا د شرابو غوندې حرام ګرځیدلی، خو د طالب جمله رهبرانو دغه د الله په شریعت کې حرام شوی مخدرات حلال ګڼل.

او همدارنګه سنن ابي داود کې په نمبر۳۱۹۸ باندې حدیث دی:**(جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رضی الله عنهما فرمایی: چې رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل " مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ)**

ژباړه: هغه څه چې د هغې په ډیر باندې نشه راځي نو لږ یې (چې نشه وربانډې نه راځي) هم حرام دی او همدا ډول سنن ابي داود کې بل حدیث دی عائشه مور فرمایي چې دی د نبي صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې هغه فرمایلي:

(كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ ،

وَمَا أَسْكَرَ مِنْهُ الْفَرْقُ
فَمِلْءُ الْكَفِّ مِنْهُ حَرَامٌ

)(ژباړه: هره نشه يي شی دا حرام دی او هغه څه چې د هغې په يوه چاټۍ څکلو نشه راځي نو د هغې څخه يو ډک تلی (او يا ورغوی) هم حرام دی، نو وګورئ په صراحت سره معلومه شوه چې هر هغه شی چې هغه نشه راولي دا به حرام وي اګر که د هغې څخه لږ چې د يو تلي يا ورغوی په مقدار وي اونشه هم نه راولي بيا به هم حرام وي، نو اوس کوکنار او چرس پريږده يو کس دی راولږي، او هغه دی يوه چاټۍ نصوار وخوري چې دده حال څنګه کېږي د يو سګريټ د تمباکو پر ځای دی يوه چاټۍ تمباکو وخوري چې د ده نه څه جوړيږي نو ددی احاديثو په بناء چرس، ترياک، سګريټ، او نصوار او ديته ورته نشه راوړونکی لکه: پوډر، شيشه وغيره دا ټول حرام شو او که نه دغه ډول نن چې د دوی ددی شرعي نظام نافذونکو ځانونو ته په ميزونو باندې کومې توفدانيانې ايښې او دا د چرګو تقليدونه يې شروع کړی دا دوی جايز ګڼي که حرام؟ بلکې دوی دی باب کې د حل او حرمت خپل لکه د نصوارو خپل شارعان هم منتخب کړی دی، ددوی دا خبره خو به مو اوريدلې وي چې ددی په حلال والي يې د ملاعمر اخوند عجيب او غريب استدلال کافي ګڼلی دی(فإن كنت لاتدري فتلك مصيبة وإن كنت تدري فالمصيبة أعظم!)

الغرض پرون دوی دغه کوکنار اوچرس حلال ګاڼه او ددی نه په استفادې حاصلولو سره يې د وخت د ناکاره ملايانو فتویٰ کافي ګڼلې خو د دوی دوه مخې او منافقت بيخي انسان تعجب کې واچوي ځکه کله نه چې دوی امريکا او نړيوالو کفارو ته تسليم شوه، او د کفر او ردة اميل يې ورته علنی ور په غاړه کړه، نو د ډير هغه څخه ور تير شوو چې دوی مخکې په هغې کې يو ډول نظريه لرله چې يو له هغې څخه همدا ناولی مذکوره بوټی دی چې دوی مخکې ددی کشت او کار او ددی نه استفاده حتیٰ عشر او زکاة هم په کې جايز ګڼلو خو نن يې بعضې احمقان د لويو پټکو او ږيرو سره لښتې په لاس د نړيوالو کفارو د يوې فاحشې استاذي په شمول پټي په پټي ګرځي او د کوکنارو بوټي ماتوي، مونږ مجبور يو چې وپوښتو چې دا ولی؟ ستاسو د اعتقاد او دين موافق ددی شين فصل څه ګناه ده چې اوس يې په لښتو وهئ؟ ددی کروند ګري چې تقريباً تر ننه يې ستاسو په سرپرستۍ کې ددی نه روزي او د ژوند تيرولو اسباب لاس ته راوړل نن مو خوارکی ته د هغه د سترګو وړاندې دا کرلی فصل مات رامات کړه دا ولې؟ ځکه دا خو تر ننه ستاسو په فتویٰ او ډاډ ددی کرونده کوله نن څنګه يو ناڅاپه ستاسو فکر او نظر ددی سره مخالفت اختيار کړه؟ که چرته حرام وي نو دا خو د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم د راتلو سره حرام شوي دي تاسو ته نن څنګه دا معلومه شوه؟ او که حلال وي لکه څنګه چې دا ستاسو اعتقاد دی، نو نن يې حرام او ناروا ولې ګڼئ؟ خو ستاسو لسان الحال همدا وايي چې نه مونږ چې اوس د کوم معبود عبادت او طاعت شروع کړی چې هغه نړيوال کفري دولتونه دي نو ددی کرونده د هغوی د رضاء او طاعت تر منځه مانع واقع کېږي نو لهذا دا ددی وجې نه ختموو هو بلکل همداسې ده که چرته طالب ددی په مخ نيوکه کې د کوم شرعي دليل نه استدلال کوي نو دا دليل خو د اسلام د ابتدا څخه موجود وه، دوی نو تر ننه ولې حلال ګاڼه؟ خو قيصه همدا ده بله نه ده چې دوی قسم کړی چې مونږ به د خپل باطل معبود د خوشحالۍ او د هغه د رضا حاصلولو لپاره هر ممکن کوشش کوو، ولوکه هغې باندې د معبود حقيقي الله متعال د دين جرړې هم کټ کېږي خو چې دغه باطل معبود مو

راضي شي او د رسمیت دا دجالي ټاپه مو سمه په دی سینه باندې راټک وهي(لا حول ولا قوة الا بالله)

نو مسلمانان دی د دوی په دی کار کې هم ښه سوچ وکړي چې دا د الله تبارک وتعالی د دین د احکامو پسې خندا ملنډې او استهزاء نه ده نو نور څه دي؟ دا د الله تبارک وتعالی په ځای د غیرالله عبادت دی او که نه؟ عبادت خو صرف دا نه دی چې غیرالله ته دی سجده وشي بلکې د یو چا له کبله حلال حرامول او حرام حلالول همدا د هغه عبادت دی او دا مونږ له ځان نه نه بلکې د شریعت له منځه وایو سنن الترمذي او معجم الکبیر د طبراني کې روایت دی عدي بن حاتم رضي الله عنه فرمایي: زه نبي صلی الله علیه وسلم او زما په غاړه کې د سرو زرو صلیب وه ماته یې وفرمایل : ای عدي دا بوت دی له غاړې وغورځوه، ماوغورځاوه بیا هغه ته وروړاندې شوم او هغه د سورة براءة څخه دا ایة کریمه ولوسته چې {اتخذوا أحبارهم ورهبانهم أربابا من دون الله} تردې چې فارغ شو ددی د لوست څخه نو ما ورته وفرمایل:(إنا لسنا نعبدهم) ای د الله نبي مونږ خو د هغوی عبادت نه وه کړی، نو هغه وفرمایل:(ألیس یحرمون ما أحل الله فتحرمونه، ویحلون ما حرم الله فتستحلونه) ایا داسې نه وه چې کله به هغوی هغه شی حرام کړه چې الله به حلال کړی وه، نو تاسو به هم حرام ګڼلو او چې حلال به یې کړه هغه څه چې الله به حرام ګرځولی وه، نو تاسو به هم حلال ګرځاوه؟ فرمایي ما ورته وفرمایل : بلې هو همداسې وه نو فرمایي هغه وفرمایل «فتلك عبادتهم» نو همدا کار ستاسو دا د هغوی عبادت کول وه، الله اکبر نن دی مسلمان ملت د نړیوالو کفارو مطالبو او د ملاهبة الله لبیک او د هغې فرمانبرداري وګوري نو دی کې به هیڅ شک ونه کړی چې طالبانو دغه نړیوال کفار او مشرکان په معبودیت باندې نیولي او د هغوی عبادت یې شروع کړی ګڼې یو حکم دی څوک داسې راوښایي چې د دوه کاله کم او زیات دی تیریدونکې موده کې دی طالبانو داسې عملي کړی وي چې هغه د الله او د هغه د رسول مطالبه وي، او د نړیوالو په خلاف وي؟ الله پرې رضا کېږي او نړیوال پرې خفه کېږي او طالبانو هغه عملي کړی وي؟

دا به هیڅ کله څوک پیدا نه کړای شي او دا ځکه چې طالبانو ته اوس د الله د رالیږلو حدودو او قوانینو هیڅ ضرورت نشته ځکه ددوی رب چې ملل ملحده دی هغه خپل حدود لري، زناکار ته خپل حد لري سارق او غل ته خپل قطاع الطریق ته خپل قاذف ته خپل لوطي ته خپل شرابي ته خپل نو چې کله یو څوک د خپل کور نه پوره وي د بل کور ته حاجت نه لري، په اخر کې د مسلمانانو توجه بیا یوې پاملرنې ته راګرځوم او هغه دا چې زمونږ دا خبری دا د څه قومي او وطني عناد نتیجه ونه ګڼلی شي بلکې د اسمانونو او ځمکو او په دی کې د اوسیدونکو جمله مخلوقاتو رب خالق او معبود ګواه ګرځوو چې دا خبرې صرف د الله د دین د نصرت او په افغانستان کې په دی دین خاص د طالبانو او په جمله نړۍ کې په دی دین د جمله طواغیتو ددی خطرناکې حملې د مخنیوي او د دوی مقابل کې د فرض عین جهاد د قیام لپاره د غافلو مسلمانانو بیدارول دي فقط::{لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَن بَيِّنَةٍ وَيَحْيَىٰ مَنْ حَيَّ عَن بَيِّنَةٍ وَإِنَّ اللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ}

اللهم ارنا الحق حقا وارزقنا اتباعه اوارنا الباطل باطلا وارزقنا إجتنابه

اللهم آمین یارب العالمین وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وعلی اله واصحابه وسلم.

* * *

د امريکا غلامي

که د اهل قبله او اهل ذمه بهاني

الحمد لله ربّ العالمين، والعاقبة للمتقين، والصلاة والسلام على محمد وآله الطاهرين ، ومن اهتدى بهديه وسار على نهجهم إلى يوم الدين، ولعنة الله على أعدائهم أجمعين من الأولين والأخرين أما بعد.

قال تعالى: **قَٰتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْءَاخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَٰبَ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَٰغِرُونَ** [سُورَةُ التَّوبَة : 29]

اسلام یو کامل دین او نظام دی ، احکام او قوانین یې د وخت نمرودیان او بلاعمه نشي بدلولای ، بلکې تر قیامت پورې به هماغه دین قابل قبول او قابل تطبیق وي چې رب العالمین په محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم نازل کړی ، دا چې امارت لا اسلامي د گڼو نواقض الایمان مرتکب گرځیدلای او غوارې خپل د ایمان ماتونکو اعمالو ته یو نه یو توجیه پیدا کړي او مسلمانان وربانديي وغولوي نو په همدې لړ کې د امارت د مبارزینو په نامه د امریکا مبلغین او دعوت گران نن سبا خلکو ته دا وسوسې اچوي چې خیر روافض هم د نورو اهل الذمه کفارو په څیر د یو اسلامي نظام په سیوري کې اوسیدلای شي او د اسلامي نظام مسئولیت دا وي چې د هغوی ساتنه به کوي ،



عبدالرحمن محمود
@Amahmood03

چې خالص کافر هم د یو اسلامي حاکمیت د قوانینو ماتحت ژوند غوره کړي، أمیر د مؤمنانو اجازه ورکړي ، دده مال، سر أو أبرو د همدې اسلامي حاکمیت مسئولیت دی چې ساتنه به یې کوي، أهل التشیع خو لا أهل القبلة دي.
خو دا باید له ذهنه و نه باسو چې دا یوه مبتدعة أو ضالة فرقة ده ، هر کال رب جل جلاله د أم المؤمنین بي بي عائشې رض په وجه، پر دوی ددوی په خپلو لاسونو حد قذف جاري کوي، همدا عذاب یې بس دی.
دا یې دنیاوي عذاب دی چې پرې مبتلاء دي، د اخرت حال خو یې رب جل جلاله ته معلوم دی.

همدې مسئلې ته د شریعت محمدي په رڼا کې راځو او وضاحت یې کوو چې د اسلامي نظام تر چتر لاندې کوم قسم کفار اوسیدلای شي او په کومو شرطونو به اوسیږي او ایا روافض هم له هغې کفارو له جملې څخه دي که نه د دوی حکم کې فرق شته؟!

د اسلامي نظام تر چتر لاندې د اوسیدونکو کفارو شروط :

په وروستیو کې یو شمیر جاهل او د قرآن او سنت څخه لرې خلکو او د امریکا د ډالرو په نشه کې بې خوده مبلغینو دا دعوی کړې چې د افغانستان پر خاوره د امارت لا اسلامي تر واک لاندې روافض او هندي مشرکین او محاربین هم له هماغو کفارو له جملې څخه شمیري چې د یو اسلامي نظام له لاندې یې اوسیدل جائز دي او اسلامي نظام به یې حفاظت کوي!

او په همدې بې بنیاده گمان شیعه روافض اهل قبله او د همدې مشرکینو هغه مراکز او عبادت خانې دیني مقدسات گڼي کوم کې چې د محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم او د صحابه کرامو رضي الله عنهم تحقیر، سپکاوی او ورپسې کنځلې پکې کیږي.

نو له همدې وجې راځو او پدی مسئله د قران او سنت څخه رڼا اچوو، چې ایا روافض د اهل الذمة په څیر د مسلمانانو د دولت د چتر لاندې زندگې کولای شي او کنه؟

او په کومو اصولو به د مسمانانو پر خاوره کفار اهل ذمه زندگي تیروي؟

دا یوه اتفاقي مسئله ده چې د اسلامي نظام تر چتر لاندې اصلي کفار د عمری شروطو ــــ هغه شرطونه چې عمر رضی الله عنه پر دوی مقرر کړي و ــــ موافق ژوند تیرولای شي چې د هغې تذکره امام ابن قیم رحمه الله او نورو علماؤ کړیده چې د هغې له جملې څخه:

١- دفع الجزية:

اول شرط پر دوی دادی ، چې دوی به د مسلمانانو دولت ته جزیه ورکوي، چې د جزیې بیا په اسلامي شریعت کې ډیر احکام دي، خلاصه یې دا ده چې جزیه د مال هغه حصې ته ویل کیږي، چې د کفارو څخه د هغوی د هر شخص پر سر اخیستل کیږي، ددې په بدل کې به د هغوی ساتنه کیږي او د مسلمانانو په ښارونو کې به پریښودل کیږي .

٢- يجب على أهل الذمّة الالتزام بأحكام الإسلام:

دوهم شرط په أهل الذمه

دادی چې په دوی لازم دي، چې د شريعت احکامو ته به غاړه ږدي ، مثلاً: اسلامي قضاء ته به تسلميږي، خپلې فيصلې به اسلامي قضاء ته وروړي او داسې نور

٣ـ ألا يحدثوا في مدينتهم ولا فيما حولها ديراً ولا كنيسة ولا قلاية ولا صومعة راهب ولا يجددوا ما خرب:

دريم شرط پر دوی دادی چې دوی به په خپلو ښارونو او له هغې ګير چاپيره ساحو کې د نصاراو د راهبانو لپاره خاص ځايونه نه جوړوي او نه به اوچتې ګيرجې جوړوي نه به کليساوې جوړوي ، نه د راهبانو خاص ځايونه او نه به جوړوي هغه عبادت خانې چې خرابې شوي وي.

٤ـ تجنّب التعرّض للمسلمين فيما يتعلق بدينهم، أو رسولهم، أو كتابهم، أو أحكامهم بالنقد أو السخرية:

څلورم شرط په اهل الذمه دادی : چې په دين اسلام او د مسلمانانو په پيغمبر او قرانکريم به د اعتراضاتو او په هغې باندی د مسخرو څخه په کلکه ډډه کوي. د قرانکريم د تحريف او په هغې به د طعن څخه ځان ساتي، د پيغمبر تحقير او سپکاوی به نه کوي او که اهل ذمه داسې اعمالو ته لاس واچاوه په هماغه ورځ به يې عهد مات او د مسلمانانو د تورو سره به مخامخ کيږي، او حکم به يې د محاربو کفارو وي.

٥ـ عدم إظهار المنكرات والفواحش في الدولة الإسلاميّة :

په اسلامي نظام او د مسلمانانو په دولت کې به د منکراتو او فحشاؤ اظهار نه کوي.

٦ـ ترك ما فيه ضررٌ على المسلمين:

د هر هغه څه به کلکه ډډه کوي چې مسلمانانو ته پرې ضرر رسيږي، لکه د مسلمانانو پر ضد جرګې کول، تجسس کول، يا جاسوس ته ځای ورکول يا د مسلمانانو په معاشره کې فحشاء خپرول دا هغه امور دي، چې په دی سره نقض د عهد راځي.

٧ـ تغير الهيئات وتمييز أنفسهم عن المسلمين:

دوی به خپل شکل ته تغير ورکوي، تر دی چې د مسلمانانو سره يې فرق راشي او خلک پر دوی د مسلمانانو فکر ونه کړي

مثلاً : د مسلمانانو په شان خولی، لونګی، څپلی به نه استعمالوي، د مسلمان په څېر لباس او ويښته به نه جوړوي، ددی لپاره چې د مسلمانانو سره يې فرق راشي، او د مسلمانانو پشان اسم کنية به نه انتخابوي لکه:

(ابوالْقَاسِمِ ، ابو عَبْدِ اللهِ ، أبو مُحَمَّد، ابوالْحَسَن، ابو بَكْر) وغيره او د مؤمنو زنانه و سره به دوی نکاحونه نه کوي .

٨ـ أن لا يعينوا أهل الحرب:

ژباړه: او په تاکيد تحقيق سره تا ته او ستا څخه مخکي تېر شويو ټولو پيغمبرانو ته دغه وحي لېږل شوېده، چې که تا شرك وکړ، نو ستا عمل به برباد شي او ته به ضرور له زيان موندونکو څخه وگرځې.

دلته دې فائدې ته خه فکر وکړئ او هغه دا چې هيڅکله او هيڅ وخت د نبي څخه شرک نه واقع کېږي خو دلته خطاب نبي ته دى او مخاطب امت دى نقطه په کې دا ده چې امت ته دا فکر او اعتقاد جوړوي، چې که بالفرض والتقدير د نبي نه هم شرک واقع شي، عمل يى بربادېږي، نو د عام امتي به څه حال وي، نو همدا وجه ده چې د رب په راليږلي شريعت کې چې د شرک څومره مذمت بدي، وعيد اوسخت عذاب بيان شوى او د دې نه څومره بندگان وېرول شوي او منع شوي دومره به د بلې هيڅ گناه متعلق نه وي وارد شوي، بيا دغه شرک په هر دور او زمانه کې د هر ځاى، کلي او منطقې مشرکانو په مختلفو طريقوسره ايجاد کړى دى، څوک د لمر عبادت کوونکي دي، څوک د ستورو، څوک د ملائکو او څوک د ونو بوټو، څوک د اوبو عبادت کوي او څوک د ښاروو، چا د مجسمو او بوتانو عبادت شروع کړى او چا د شيخانو او پيرانو چا د قبرونو عبادت شروع کړى او چا طاغوتي چارواکي او وضعي قوانين د الله سره شريکان گرځولي دي، قابل د رد دغه

ټول اقسام دي، مذموم او مردود دغه ټول دي، په دوی کې په يو باندې رد دا به په ټولو باندې رد گڼلای شي، خو دلته به د افغانستان د قبوري امارت د شرکي دين په مناسبت د قبرپرستۍ د مذمت او مردوديت دلائل ذکر کړو، بل د شک نه پرته خبره دا هم ده، چې شرک شروع شوی نو دا د مړو د تعظيم او د هغوی د غير مأمور احترام له وجهی څخه شروع شوې دی، ابن عباس رضي الله عنهما نه امام بخاري رحمه الله په کتاب التفسير کې د سورة نوح د۲۳ نمبر ايت کريمه په تفسير کې د بوت پرستۍ د ابتدا سبب او تاريخ همدا د مړو تعظيم او ممنوع محبت گرځولی دی، الله متعال هم د قبرپرستۍ متعلق په سورة النحل ۲۰ او ۲۱ نمبر اياتونو کريمه و کې داسې ذکر کوي فرمايي:

وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ لَا يَخْلُقُونَ شَيْـًٔا وَهُمْ يُخْلَقُونَ أَمْوَٰتٌ غَيْرُ أَحْيَآءٍ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ

ژباړه: او هغه کسان چې له الله پرته نور خلك رابللي (عبادت يې کوي)، هغوی د هيڅ شي پيدا کوونکي هم نه دي؛ بلکي په خپله پيداکړای شوي دي. دوی مړه دي ژوندي هم نه دي او نه په دی علم لري، چې کله به دوی راپورته کيدای شي (له قبرونو څخه)

نوڅوک چې وايی چې مشرکانو هميشه د بوتانو عبادت کړی، د مړو او قبرونو يې نه دی کړی، نو دا خبره د قران د دې وضاحت او د ابن عباس رضي الله عنهما د تفسير څخه ښکاره معلومه شوه، نو هرگز دې څوک دا نه وايي چې د مړو عبادت نه دی شوی! بلکې اصل کې شرک شروع شوی د مړو د عبادت او د قبرونو د تعظيم څخه دی، ځکه خو شارع د مړو د دې غير شرعي اکرام او احترام ټولې لارې بندې کړې دي، چې د دې متعلق دلائل دا دي:

۱: دليل: صحيح مسلم کې په نمبر۱۶۱۶ باندې صحيح حديث موجود دی، جابر رضي الله عنه فرمايي: **نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُجَصَّصَ الْقَبْرُ ، وَأَنْ يُقْعَدَ عَلَيْهِ ، وَأَنْ يُبْنَى عَلَيْهِ“.**

ژباړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم منع فرمايلې د دې څخه، چې قبر چونه کړای شي او له دې چې ناسته پرې وکړای شي او له دې چې ابادي دې پرې جوړه کړای شي، اوپه صحيح روايت د سنن النسائي کې ورسره دا هم دي چې ”وأن يكتب عليه ” اوله دې يې هم منع فرمايلې ده، چې ليکل دې پرې وشي. (فقه الحديث)

دلته د الله نبي د قبر چونه کول او په هغې ابادي جوړول منع کړي دي، خو د تصوف په دنيا کې تاسې وگورئ کوم پير دی، چې دوی په قبر کوټې او گونبدې نه وي جوړې کړي، رنگول او د ابادۍ ډيزاينونه اونقشې خو يې داسې وي، چې بيخي ته به وايي چې دا د ژوندو اوسيدوونکو کور دی، داسې پړق او پړوق وي چې مه کوه پوښتنه، قسما قسم بلفونه، چراغونه او مشالونه پرې روښانه وي، ډيوې او شمعې يې پرې کتار کړې وي، او قبرونه داسې مضبوط پښوي او دومره اوچت يې جوړوي چې د نبي صلی الله عليه وسلم د امر د مخالفت هيڅ فکر او پروا نه کوي.

د ملا عمر قبر يې لا بيله عجوبه ده، عزتمندو شرک صرف بوت پرستي نه ده، شرک صرف اتش پرسي او لمر پرستي نه ده لکه څنگه چې مونږ مخکې فصل کې واضحه کړه چې شرک چې په دنيا کې په لومړي ځل ساه اخيستې او شروع شوی، نو د همدې مُړو د بې ځايه اکرام او ممنوع تعظيم او احترام له کبله شروع شوی دی، همدا وجه وه چې نبي صلی الله عليه وسلم عموماً د قبرونو د پخولو، چونه کولو ،په هغې د ابادۍ جوړولو او حتی په هغې د کيناستلو څخه منع فرمايلې ده، د جابر رضي الله عنه په دې حديث کې خه سوچ وکړئ!

۲: دليل : صحيح البخاري کې په نمبر ۴۱۱۲ باندې د عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی، هغه فرمايي چې نبي صلی الله عليه وسلم به هغه مرض کې چې هغې څخه وفات شو فرمايل: **لَعَنَ اللَّهُ الْيَهُودَ اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ ”**

ژباړه : لعنت د الله دی وي،

په يهودو چې هغوی د خپلو انبياوو قبرونه مسجدونه گرځولي وو (فقه الحديث)

د قبرونو داسې تعظيم کول چې هغې باندې بناء او مساجد جوړ شي، دا د الله د لعنت سبب دی، نو چې د انبياوو قبرونو باندې مساجد جوړول، د نبي صلی الله عليه وسلم د بد دعايې او د الله د لعنت سبب گرځي، نو د ملاعمر او يا بل کوم صوفي وغيره په قبر داسې گنبدې، ابادۍ او مسجدونه جوړول به ځنگه د لعنت او بد دعايې سبب نه وي، بل د حديث نه صراحت سره معلومه شوه چې په مړو ابادۍ او مسجدونه جوړول دا د مسلمانانو نه بلکه د يهودو عمل دی.

۳: دليل: موطا د امام مالك رحمه الله کې روايت دي، چې نبي صلي الله عليه وسلم وفرمايل: **”اللَّهُمَّ لَا تَجْعَلْ قَبْرِي وَثَنًا يُعْبَدُ ، اشْتَدَّ غَضَبُ اللَّهِ عَلَى قَوْمٍ اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ“**

ژباړه: ای الله زما د قبر څخه بوت مه جوړوه، چې عبادت يې وکړای شي سخت دي شي، غضب د الله په هغه قوم چې هغوی د انبياوو قبرونه مساجد گرځولي دي.

(فقه الحديث) دلته هم لکه د مخکې حديث دا روښانه شوه، چې د أنبياوو په قبرونو مساجد جوړول دا دالله د سخت غضب او د نبي صلی الله عليه وسلم د ښيرا او بد دعا سبب گرځي، نو چې يو عام د تصوف د خرافاتو داعي راوستل شي او مسجد کې دفن شي او يا يی هم په قبر مسجد جوړ شي، نو دا به د کوم وعيد مستحق وي فکر تاسې وکړئ، بله مسئله له حديث څخه دا معلومه شوه چې کوم قبر ته د مېلې او عرس په شکل او يا د خير د حصول او د شر د دفع په خاطر راټول شي، نو دا قبر د بوت په منزله شو او دا معبود وگرځيده دا بيا بيله خبره ده چې دا ورته معبود وايي او کنه.

۴: دليل: ابو عبَيدَة بن الْجراَّح رضي الله عنه فرمايي: اخري هغه خبره چې د الله نبي صَلى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وربانديې خبره وکړه هغه دا وه چې ويې فرمايل: **”أَخْرِجُوا يَهُودَ الْحِجَازِ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ ، وَاعْلَمُوا أَنَّ شِرَارَ النَّاسِ الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْقُبُورَ مَسَاجِدَ.**

ژباړه: د حجاز يهود دعربو د جزيرې څخه وباسئ او په دی وپوهيږئ چې بدترين خلک هغه دي، چې قبرونه مسجدونه گرځوي!

(فقه الحديث) د دې حديث څخه هم معلومه شوه چې په قبرونو ابادي او مساجد جوړول دا ډير خطرناک او ناولی عمل دی، ځکه خو نبي صلی الله عليه وسلم د ژوند په آخري سلگو کې د دې نه امت ويراوه او دا چې دا د بدترين مخلوق کار دی او دا کار نه دی مگر د يهودو.

۵: دليل: عَبْدُ اللَّهِ بن مسعود رضي الله عنه فرمايی ،ما له رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه واوريدل چې فرمايل يې: **”إِنَّ مِنْ شِرَارِ النَّاسِ مَنْ تُدْرِكُهُ السَّاعَةُ وَهُمْ أَحْيَاءٌ ، وَمَنْ يَتَّخِذُ الْقُبُورَ مَسَاجِدَ.**

ژباړه: بې شکه د بدترينو خلکو له جملې څخه هغه څوک دي، چې قيامت پرې راشي او دوی ژوندي وي اوهغه چې قبرونه مساجد گرځوي.

(فقه الحديث) دا حديث هم د مخکې حديث غوندې د قبرونو څخه مسجد جوړول او هلته لمونځونه کول د بدترينه خلکو کار گرځولی دی.

٦: دليل: عائشه مور رضي الله عنها فرمايي، چې ام حبيبې او ام سلمې په حبشو کې يوه کنيسا ليدلې وه، چې هغې کې تصويران و، نو دا کېسه يې نبي صلی الله عليه وسلم ته وفرمايله نو نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: **”إِنَّ أُولَئِكَ إِذَا كَانَ فِيهِمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ فَمَاتَ، بَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا وَصَوَّرُوا فِيهِ تِلْكَ الصُّوَرَ ، فَأُولَئِكَ شِرَارُ الْخَلْقِ عِنْدَ اللَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.**

ژباړه: بې شکه دوی و، چې کله به په دوی کې کوم صالح انسان مړ، شو نو دوی به د هغه په قبر مسجد جوړ که او د هغوی تصويران به يې پکی رسم کړل، بس دوی بد ترين خلک دي، د قيامت په ورځ د الله په نزد.

(فقه الحديث) معلومه شوه چې په قبر مسجد جوړول لکه ځنگه چې د يهودو عمل دی، داسې نصارا هم د دې اهتمام

کوونکي دي، بل دا چې دغه شرکیات ټول د صالحو بنده ګانو سره د محرم او ممنوع تعظیم له کبله منځ ته راغلي دي، بله دا چې دغه نوعه خلک به د قیامت په ورځ له ټولو انسانانو بدترین مخلوق وي، والعیاذ بالله تعالی من ذلک.

نو عزتمندو! دا شو د شریعت د امام او رهبر محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمودات او په قبرونو د ابادۍ او مساجدو دجوړولو وعیدات خو د دې برعکس نن وطني قبوري امارت وګورئ، چې په هر ولایت د افغانستان کې یې اوچت او پاخه قبرونه او په هغې پخې جوړې شوې قبې ابادۍ او مناري همداسې ولاړې پریښې دي او نه چې دومره فقط بلکې د هغې ترمیمونه کوي، هغې ته یې خاص څوکیداران او امنیتي عسکر ودرولي دي، او له بودیجې څخه یې ورته فنډونه خاص کړي دي، د مسعود مرتد په قبر جوړه قبه او ابادي ولې تر ننه ونه نړیده؟

د بلخ شرکي مزار ولې تر ننه ونه نړیده؟ دجنرال فهیم مرتد په قبر دا دومره اوچته بنا او دغه ډول د افغانستان په مقبرو کی دا په زرګونه پاخه قبرونه او په هغې جوړې بناګانې ولې نه نړوي؟

بلکې ملا عمر ته منسوب قبر ولې نن دومره مزین او په دې یې دومره ابادۍ او بناګانې جوړې کړې او حتی لنګر یی پکې شروع کړی او د قبر سره تقریباً جریب یا نیم جریب ساحه یی په سور فرش، فرش کړې ایا دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم ښکاره مخالفت نه دی؟

ایا دغه ډول بناګانو جوړولو سره د بې علمه مسلمانانو زړونو ته د دې مړو تعظیم نه ورننوځي؟ ایا دا ښکاره او عیان دلیل نه دی چې ملا هبت الله او جمله وطني طالبان دا غالي قبرپرست مشرکان دي؟

همدا په قبرونو جوړې شوې محرمې او ممنوعه ګنبدې او تعمیرات دي، چې د دې په مرسته دوی د قبرپرستۍ بازار ګرم کړی دی، وګورئ نن د دې قبرونو عبادتو نه کیږي، سجدې ورته نه کیږي، د دوی څخه مخکې طاغوتي حکومتونو هم په رسمي توګه د دې شرکي مزاراتو د تحفظ اوساتنې لپاره قوانین او مادې خاص کړې وې او دغه اعتقاد د شاوخوا نورو جمله مرتدو دولتونو هم دی.

هو! په دې کې شک نه شته، چې دې کفر او شرک کې اخته خلکو دغه قبرونه او مزارات د لات او منات غوندې معبودان ګرځولی دي، خو امارت قبوري بیا نه تنها د دې او دېته ورته د جمله شرکي مواضعو، بلکې دوی خو د بوتانو هم د ساتنې او ترویج خاص اهتمام شروع کړی دی! د بامیانو بوتان، د کابل په نندارتون کې بوتان، د سیکهانو شرکي درمسالونه، د روافضو تکیه خانې او د صوفیانو شرکي خانقاوې خو لا محترم او د تقدس أمکنه ګڼي.

الغرض د افغانستان په هر ولایت کې صوفیانو جوړ کړي، دا شل ګزي او څهل ګزي، باباګان دغه ډول د زیړي او د دانو بابا ګان، دغه ډول نور هغه بې شماره ګنبدې او قبې چې ډیری خلک یې د مشکل رفعه کونکو په صفت پیژني، بیخي د الله صفات یې ورته منسوب کړي، چې علت او سبب یې وربانديې هم دا بنا ګانې رنګونه او اوچتې اوچتې قبې ګنبدې او ابادیانې جوړول او رنګارنګ څادرونه غوړول دي او همداراز په هغې دا شنې او سرې پنجرې ودرول او په هغې کی لنګرونه ایجادول دا ټول د همدې سبب ګرځیدلي چې نن یې خلک د الله سره شریکوي، ګنې هسې تاسې فکر وکړئ، په کومه مقبره کې چې زوړ قبر وي او ساده وي او په سنت طریقه برابر وي، هیڅ کله څوک هغې ته نه راغونډیږي، ولو که دا یقیني د الله د یو اوچت ولي قبر ولې نه وي، خو که کوم قبر په هدیره کې پوخ وي، مناره او ګنبد پرې ولاړه وي او سرې او شنې جنډې یی وربانديې راځوړندې کړې وي، نو دا بیا مشکلات ختمونکی او حاجت پوره کونکی ګڼل کیږي، ولو که دا د یو کټاس مشرک قبر ولې نه وي، د پنجاب حالات په چا پټ نه دي، ګدا بابا (خر بابا) کوتا بابا (سپی بابا) ننګا بابا (بربنډ بابا)

په دې نومونو چې کوم قبرونه دي، سم رش پرې جوړ دی، نارینه او زنانه په کې له شماره وتلي، د ثواب او اجر به نیت راروان وي، هلته د خپلو حوایجو د پوره کولو او د شرونو څخه د ځان ژغورنې په بنا راروان وي، خپله وایي چې دلته خر اوسپی دفن دي انسان هم نه دی، خو بیا هم راځي دا ولی دا ځکه چې په دې تعمیر او ابادۍ ګنبد او مناره ډیره عجیبه جوړه شوې، ځکه خو اسلام د داسې شرکیاتو او د فتنو د اسبابو او ذرائعو مخه نیولی او د دې په نړولو او ختمولو یې حکم کړی دی.

خو د ملا هیبت الله امارت چې یو قبوري امارت دی، د دې شرکیاتو او خرافاتو یې د مزید نشر او اشاعت په پار سخت کوششونه په کار اچولي دي، نو مونږ دا خبره په حق کوو او د الله له شریعت څخه یې کوو چې د دوی دا کار شرک دی، دا کار یې کفر او ردت دی دا د دې قبرونو عبادت دی، چې دوی یې کوي، د اسلام دین او د هغې احکام زمونږ مخې ته پراته دي، د دې د جواز او اباحت هیڅ ثبوت په دې کې نشته پاتې یې لا فضیلت او غوره والی، ځکه چې دغه کار په اسلام کې مطلق حرام دی، ابتدا د اسلام کې د دې بوی هم نه و موجود ،مشهور فقیه إمام شافعي رحمه الله په خپل کتاب الأم ١/٣١٦ کې فرمایي: **ولم أر قبور المهاجرين والأنصار مجصصة** ژباړه: ما د مهاجرینو او انصارو صحابه کرامو قبرونه نه دي لیدلي، چې هغه چونه کړای شوي وي، ځکه له صحابه او تابعینو څخه د قبرونو ډولي کول، پښول او یا هم په هغې باندې بناګانې او قبې جوړل او یا هم هغې کې اجتماع ګانې او راغونډیدل بالکل ثابت نه دي، دا ډیر وخت بعد شروع شوي او د امت د ګمراهۍ لپاره ایجاد شوي دي.

شیخ الإسلام ابن تیمیة رحمه الله په مجموع الفتاوی ٢٧/٤٦٦ کې د دې متعلق وضاحت کوي او فرمایي: **”ولم يكن على عهد الصحابة والتابعين وتابعيهم من ذلك شيء في بلاد الإسلام، لا في الحجاز، ولا اليمن، ولا الشام، ولا العراق، ولا مصر، ولا خراسان، ولا المغرب، ولم يكن قد أحدث مشهد، لا على قبر نبي، ولا صاحب، ولا أحد من أهل البيت، ولا صالح أصلا، بل عامة هذه المشاهد محدثة بعد ذلك، وكان ظهورها وانتشارها حين ضعفت خلافة بني العباس وتفرقت الأمة، وكثر فيهم الزنادقة الملبسون على المسلمين، وفشت فيهم كلمة أهل البدع، وذلك من دولة المقتدر في أواخر المائة الثالثة.**

ژباړه: او نه و، د صحابوو په زمانه کې او نه د تابعینو او نه د هغوی د تابعینو په زمانه کې د دې (جوړو شویو ګنبدو او پخو قبرونو) څخه هیڅ شی نه و، د مسلمانانو په ښارونو کې نه په حجاز کې او نه په یمن کې نه په شام کې او نه په عراق کې نه په مصر او نه په خراسان او نه په مغرب کې او نه و دغه راټولیدل د خلکو قبرونو ته نه په قبر د نبي او نه یې د کوم ملګري اونه د کوم بل اهل بیت اونه د کوم صالح انسان بالکل بلکې عام دغه بناګانې په قبرونو دا له دې نه وروسته پیداشوي دي او د دې ظهور او نشر دا هغه وخت وشو، چې کله د بنو عباسیوو خلافت کمزوری شو او أمت کې ډلې ایجاد شوی او ډیر شول، هغه زنادقة چې مسلمانانو باندې یې تلبیس کولو نو پس عامه شوه په دوی کې عقیده د بدعتیانو او دا د مقتدر په دولت کې د دریم قرن په اخر کې وشو.

همداراز موصوف رحمه الله په بل مقام د مجموع الفتاوی١٦٧/٢٧ کې یې دغه قبرونو باندې بناګانې جوړول دا د کفارو او زنادقوو د دین د بدلولو سازش او د غربیانو سره یې دا کار د مبتدعینو موافقت ګڼلی دی.

نو د شیخ الاسلام له خبرو څخه صفا معلومه شوه، چې قبرونه په دې طریقې جوړول او هغې ته راغونډیدل دا ناکاره شنیع بدعت دی او دا کار په دې امت کې نه دی ایجاد کړی مګر د غربیانو او زنادقه کفارو څخه متأثرو شویو مبتدعینو.

امام طحاوي رحمه الله په مختصر اختلاف العلماء ١/٤٠٧ کې د امام لیث رحمه الله قول نقل کړی دی، چې هغه فرمایي: **بنيان القبور ليس من حال المسلمين وإنما هو**

من حال النصارى.

ژباړه: قبرونو باندې ابادي جوړول دا د مسلمانانو نه، بلکې دا د نصاراوو عمل دی، نو وگورئ عزتمندو د امارت قبوري صوفیانو دغه کار د دوی د نصاراوو سره مشابهت کول دي، نو د امت اهل علم دا کار د اسلام د دښمنانو عمل معرفی کوي، خو امارت قبوري او د دې مشر هیبة الله دا کار د خپلو پیرانو اومشرانو لازم حق گڼي، نو په دې کې به څوک شک وکړي، چې نن زمانه کې دغه د قبرونو له پاسه جوړی شوې، قُبې او مزارات همدا بیخي د شرک مراکز گرځیدلي دي، چې تصوف کې په خاص اهتمام سره د دې تعظیم او عبادت کیږي، بلکې روغ روغ مسجدونه یې په دې قبرونو جوړ کړي او د نورو مساجدو په نزد دې مساجدو کې د زیات اجر او ثواب په نوم لمونځونه کوي، ډیرى پیران د دې دیوبندي صوفیانو خاص او نورو صوفیانو کې عام داسې وي، چې مړه شي نو مریدان یې راواخلي او روغ یې د مسجد په کونج کې دفن کړي، یا یې پیر وصیت کړی وي او یا هم مریدان د تبرک په وجه دا کار کوي، د ملاعمر قبر یې یو ژوندی ثبوت او حاضر مثال دی، سره له دې چې شریعت کې دغه کار حرام ناروا او په سختو الفاظو غندل شوی دی، چې د دې متعلق بحث به ان شاء الله تعالى په راروان فصل کې بیان کړو، وبالله تعالى التوفیق والحمدلله رب العالمین.

تفریح القلوب وتثلیج الصدور
بتهدیم مواضع الشرك
وأبنیة القبور

مخکې فصل کې مونږ د لوی الله په خاص فضل او توفیق سره د قبرونو د پخولو او په هغې د ابادۍ او بناگانو جوړولو وغیره مذمت او ممانعت د کتاب او سنت څخه ذکر کړ، اوس په دې فصل کې بتوفیق الله تعالى دا ذکر کوو چې جمله شرکي مواضع او اوچت غیر شرعي قبرونه قُبى، گُنبدې او په هغې جوړې شوې ابادۍ نړول او ختمول دا د اسلامي دولت او شرعي نظام وجیبه اوفریضه ده او همدا د امر بالمعروف او د نهى عن المنكر حقیقي او عملي ثبوت دی، همدا هغه څه دي چې د الله توحید یې تقاضا کوي، همدا هغه څه دي، په الله تبارک وتعالى د صحیح ایمان لرلو تقاضا ده! همدا هغه څه دي، چې رب متعال یی په اړه په هر دور او زمانه کې په هر قوم کې رسولان رالیږلي، تر څو دغه انسانان د الله عبادت وکړي او د طاغوت د عبادت څخه ځانونه وژغوري ارشاد رباني دی: ”**وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّٰغُوتَ .**

ژباړه) په تاکید تحقیق سره موږ په هر اُمت کې یو رسول لیږلی، د دې لپاره چې (دغه انسانان د هغه په وسیله) د الله بندگي وکړي او د طاغوت له بندگۍ څخه ځان وژغوري.

دغه شان همدا هغه څه دي، چې د دې لپاره الله رب کریم د کفر او اسلام ترمنځه د لومړۍ ورځې څخه د جنگ ډگر گرم ساتلی او دغه معرکې ته یې د افضل جهاد نوم ورکړی دی، ځکه ترڅو چې دغه شرک او کفر موجود وي نو تر هغى به د مؤمنانو له لورې قتال جاري وي او دا خو د قران د متعددو ایاتونو او بې شماره احادیثو څخه ثابت ده، چې هیڅ مسلمان به په کې اختلاف ونه کړي اوس د رب دې صریحو احکامو ته وگورئ، چې د شرک او خرافاتو خلاف انبیاء رالیږي، جهاد جاري ساتي، خو بل طرف د ملاهیبة الله په قبوري امارت کې د شرک او شرکي مواضعو ترویج ساتنه او تأمین وگورئ!

نو راځئ او د داسې قبرونو، مزاراتو ،مشهدونو ، قُبّو او ابادیو حکم هم باید وپیژنو، چې شریعت کې د دې څه حکم دی؟ نو راځو او د شریعت دسپیڅلي حکم څخه ځانونه خبروو.

نو عزتمندو مسلمانانو! لکه څنگه چې تاسې ته د تېر تفصیل څخه معلومه شوه ع، چې دغه اوچت قبرونه او په دی جوړې شوې ابادۍ، ودرول شوې منارې او گنبدې او نقش شوې منظرې دا ټول د شرک او قبرپرستۍ ذریعى او اسباب دي اگر که یو منطقه کې دا موجود وي او قطعاً یې

څوک تعظيم هم نه کوي، نو بيا به هم دا نارا محرم او ناجايز وي او نړول به يې ضروري وي، په دې دلائل څه دي راځو او دغه دلائل ذکر کوو

١: دليل : او هغه دا دی چې دا د لات او منات په منزله کې دی، نو چې يو شی دومره مرتبه کې خطرناک او ضرري وي نو نړول او ختمول يې فرض دي، الله متعال په قران کې د قتال د دوام لپاره تر هغې امر کړی، چې ترڅو فتنه ختمه شوي نه وي، الله متعال په سورة الأنفَال ٣٩ نمبر ايت کريمه کې فرمايي: **وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ .**

ژباړه: او وجنګيږی د هغوی (کفارو) سره تردی چې شرک پاتی نه شي او طاعت ټول دالله دپاره وګرځي.

(استدلال) طريقه د استدلال دا ده چې دلته په اتفاق د مفسرينو سره د فتنې څخه مراد شرك دی، نو چې کله دکفارو سره قتال په دی مقصد جاري وي، چې شرک ختم شي نو چې کله د مسلمانانو په منځ کې د شرک اډی ولاړی وي او خپله ځانته مسلمان ويوونکي په کې اخته وي او د نسلونو د تباهۍ سبب ګرځي نو څنګه به نه نړيږي او خلاف به يې مشن جاري نه وي؟! بل دا چې شرک جدا دين دی او اسلام جدا، نو په يوه خاوره دوه دينه پريښودل دا کوم شريعت کې دي، چې مسجدونه دی هم وي او د شرك مراكز او اډی دی هم وي!!

٢: دليل: راځو احاديثو د رسول الله صلی الله عليه وسلم ته او دا ډير زيات دي چې دلته به يې د الله په مرسته او توفيق يو څو ذکر کړو:

١. **حديث:** صحيح مسلم کې په نمبر ٨٣٢ باندې حديث دی ،**عمرو بن عبسة رضي الله عنه فرمايي ،مانبي صلى الله عليه وسلم ته وفرمايل وبأي شيء أرسلك ؟ قال: " أرسلني بصلة الأرحام، وكسر الأوثان، وأن يوحد الله لا يشرك به شيء .**

ژباړه : او په څه کار ته الله راليږلی يې، هغه وفرمايل زه يې په صله رحمۍ ساتلو او د بوتانو په ماتولو او په دې چې الله يو وګڼل شي او هيڅ شريک ورسره ونه نيولی شي راليږل شوی يم.

(استدلال) د استدلال طريقه د دې حديث څخه دا ده چې راتلل د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د توحيد دقيام او د بوتانو د ماتولو د پاره دي، ځکه چې بوتان دا دالله سره شريکان ګڼل دي، نو چې کله دغه قبرونه مجسمې او دربارونه ونې کاڼي دا د شرک بالله تعالی اسباب وي نو څنګه به نه شي ماتيدلای.

٢. حديث: صحيح مسلم کې په ١٦١٥ نمبر باندې د ابو الهياج الاسدي رحمه الله نه نقل دي، هغه فرمايي ماته علي رضي الله عنه وفرمايل **أَلَا أَبْعَثُكَ عَلَى مَا بَعَثَنِي عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ أَنْ لَا تَدَعَ تِمْثَالًا إِلَّا طَمَسْتَهُ ع، وَلَا قَبْرًا مُشْرِفًا إِلَّا سَوَّيْتَهُ ".**

ژباړه: ايا زه تا په هغه څه باندې ونه ليږم په کوم چې زه نبي صلى الله عليه وسلم ليږلی وم او هغه دا چې ته روغ پرينږدې يوه مجسمه مګر دا چې خرابه يې کړه او نه کوم قبر اوچت مګر د اچې هغه برابر کړه (د ځمکې) سره

(استدلال) د استدلال طريقه دا ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به هر هغه قبر د ځمکې سره اوارولو کوم به چې اوچت و او دا ځکه چې د دې تعظيم ونه شي، د دې عبادت شروع نه شي، خلک يې معبود ونه ګرځوي، خلک ترينه صنم جوړ نه کړي دليل دا دی چې نبي صلى الله عليه وسلم به د دې د نړولو او د مجسمو د خرابولو يوشان امر فرمايلو، نو چې کله د نبي صلى الله عليه وسلم په موجودګۍ کې د دې ډول قبرونو وجود د شرک سبب او ذريعه ګرځي، نو زمونږ د زمانې خو بيخې پوښتنه مه کوه.

٣: حديث: متفق عليه حديث دی جرير بن عبد الله البجلي رضي الله عنه فرمايي: ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ای جريره! ته ما ته راحت نه راکوې، د ذوالخلصة څخه چې دا يوه کوټه وه د خثعم قبيلې چې کعبه يمانيه يې ورته ويلې هغه فرمايي زه ورپسې د يوسل او پنځوس (١٥٠) اسپ سوارو په شمار

کې ووتلم فرمايي خو زه په اسپ نه شوم ټينګيدای (يعني زما د هغې سورلی ياده نه وه) نو دا مې نبي صلی الله عليه وسلم ته ياده کړه نو فرمايي هغه خپل لاس مبارک زما په سينه ووهلو او ويي فرمايل: اللهم ثبته واجعله هاديا مهديا ژباړه: ای الله دامضبوط کړه او ده لره هدايت کوونکی او هدايت موندونکی وګرځوه.

فرمايي چې لاړ او هغه يې په اور وسوځوله او بيا جرير رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يو سړی وليږه چې زيری ورکړي، چې هغه د ابو ارطات په اسم کنيه ياديدای شو زمونږ څخه، نو پس هغه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی او ورته يي وفرمايل: **ما جئتك حتى تركناها كأنها جمل أجرب.**

ژباړه: زه را نه غلم تا ته تردې چې موږ هغه د يو ښارښتي اوبښ پشان پريښوده، نو فرمايي: چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د احمس په اسونو او د هغې په سړو باندې پنځه ځله د برکت دعا وکړه.

(استدلال) وجهه د استدلال ښکاره ده خو د مزيد وضاحت لپاره به د مشهور محدث حافظ ابن حجر رحمه الله قول ذکر کړم چې موصوف د دې حديث متعلق په فتح الباري۸/۷۳ کې فرمايلي دي، فرمايي: **وَفِي الْحَدِيث مَشْرُوعِيَّة إِزَالَة مَا يُفْتَتَن بِهِ النَّاس مِنْ بِنَاء وَغَيْرِه سَوَاء كَانَ إِنْسَانًا أَوْ حَيَوَانًا أَوْ جَمَادًا.**

ژباړه: او په حديث کې دليل دی په جواز د ختمولو د هغه څه چې خلک پرې په فتنه کې غورځيدلای شي، د ابادۍ څخه وي او که نور وي له هغه نه بيا برابره ده دا انسان وي که حيوان وي او که جماد.

۴: حديث: نبي صلی الله عليه وسلم خالد بن الوليد رضي الله عنه په يوه سريه کې د عزا د ختمولو د پاره ليږلی و.

۵. حديث: نبي صلی الله عليه وسلم سعد بن زيد الأشهلي رضي الله عنه په يوه سرية کې د امير په صفت د منات د نړولو په پار ليږلی و.

٦.حديث: نبي صلی الله عليه وسلم عمرو بن العاص رضي الله عنه په يوه سرية کې د امير په صفت د سواع ختمولو په پار ليږلی و.

چې دغه واړه روايات [البداية والنهاية ۴/۲۱۲ /۴/ ۷۷٦ /۵/۷٦۷ کې او همداراز تقريباً د سيرت په هر کتاب کې ذکر شوي دي.

(استدلال) طريقه د استدلال د دې رواياتو څخه په دې ډول ده، چې کله يوه بقعه او ځمکه کې الله مسلمانانو ته تمکين ورکړي، نو هغه به شرکي او د دې ذريعه ګرځيدونکي جمله الات اسباب او امکنه نړوي، خو نن امارت قبوري بيخي د دې برعکس کار شروع کړی او بيا دعوی هم داسلام کوي اوخپل قبوري نظام ته شرعي او اسلامي نظام هم وايي!

۷. حديث: د مسجد ضرار واقعه د تفسيرونو هر کتاب کې صحيح ثابته واقعه موجوده ده، چې منافقانو يو مسجد جوړ کړ الغرض چې کله دغه د الله اود هغه د رسول په مخالفت کې جوړ شو نو رسول الله صلی الله عليه وسلم مالك بن الدخشم اومعن بن عدي رضي الله عنهما وليږه او ورته يي وفرمايل **"انطلقا إلى هذا المسجد الظالم أهله، فاهدماه وحرقاه".**

ژباړه: ورشئ دې مسجد ته، چې ظالم دی اهل د هغې ويې نړوئ او ويې سوزوئ تفسير ابن کثير ۴/۲۱۲

(استدلال) د استدلال طريقه دا ده چې کله مسجد د دين د مخالفت لپاره جوړيږي نړول يې واجب او د نبي صلی الله عليه وسلم تابعداري ده، نو چې قبرونو باندې ګنبدې منارې ابادۍ مساجد وغيره دربارونه او معبدونه د رب سره د شرک کولو لپاره جوړيږي، نو دا به څنګه پريښودلی شي، دا شو مرفوع روايات راځو د صحابه کرامو معمول ته:

(۱: الأثر) دغه ډول هغه ونه چې صحابه کرامو ترې لاندې د بيعت الرضوان شرف حاصل کړی و، ابن القيم رحمه الله په اغاثة اللهفان ۱/۲۱۰ صفحه کې په سند سره نقل کړې، چې کله عمر رضی الله عنه ته خبر ورسيده چې خلک ورځی او د هغې نه لاندې لمونځونه کوي، نو فرمايي **فقطعها، لأن الناس**

كانوا يذهبون فيصلون تحتها فخاف عليهم الفتنة.

ژباړه: نو پس هغه ونه قطع کړه ځکه چې خلک ورتلل او د هغې لاندى يې لمونځونه کول، نو پس ويريده په دې خلکو باندى د فتنې له کبله (چې واقع په کې نه شي)

(۲: الأثر) دغه ډول د عمر رضى الله عنه په وخت کې د دانيال عليه السلام جسد مبارک راووتلو، کېسه د امام ابن اسحاق رحمه الله په المغازى۱/٦٦ کې ذکر ده چې خلاصه دا چې کله صحابه دا تسليموي چې دا د الله نبي دانيال عليه السلام دى، نو د عمر رضى الله په امر د ورځى جدا، جدا ديارلس (۱۳) قبرونه کني او بيا د شپې په تياره کې له خلکو پټ په يو د هغې کې دانيال عليه السلام دفن کوي، د ابوالعاليه نه چې پوښتنه کيږي، چې تاسې څه وکړل نو هغه همدا کېسه کوي او بيا فرمايي: **فلما كان الليل دفناه، وسوينا القبور كلها، لنعميه على الناس، لا ينبشونه.**

ژباړه: بس چې کله شپه شوه دا مو دفن کړ او بيا مو هغه ټول قبرونه دځمکې سره هموار کړل چې پټ يى کړو دخلکو څخه چې راويې نه باسي، نو وگورئ عزتمندو د عمر رضى الله عنه د دې کار مقصد ښکاره همدا دى چې څوک د ده د قبر څخه مشهد او ميله او د عبادت ځاى او بوت جوړ نه کړي.

نو دا دلائل ښکاره صراحت کوي په دې چې هر هغه شى او مکان چې د خلکو د گمراهى سبب وي، هغه به نړيدلى شي، هغه قبر وي که ونه او حجر وي او که بناء او ابادي، نو چې يوه ونه چې قران يې تذکره او يادونه کوي، خو عمر رضى الله عنه يى کټ کوي او هيڅ صحابي او تابعي دا کار نه منعه کوي او نه پرې بد وايي دا ولي؟

دا ځکه چې فتنه ترينه ودريږي او هر هغه شى چې هغه د شرک او يا د شرک ذريعه اوسبب گرځي د هغې ختمول د مؤمنانو د امير او د هغوى د دولت فريضه ده، تاسې په دى کار د صحابه او تابعينو اجماع او اتفاق ته خه وگورئ، يو په دى کې د عمر رضي الله عنه سره په دى اختلاف نه کوي، دغه ډؤل د امت وروستي سلف او فقها هم د دې تائيد کوي، إمام شافعي رحمه الله په خپل کتاب الأم ۱/۳۱٦ کې فرمايي: **وقد رأيت من الولاة من يهدم بمكة ما يبنى فيها فلم أر الفقهاء يعيبون ذلك .**

ژباړه: او يقيناً ماليدلي د واليانو څخه چې هغوى به ورانولې په مکه کې هغه ابادى چې په قبرونو به جوړې شوې وې، اونه به وو فقها چې بد به يي ويل په دې کار دغه ډول علامه ابن القيم رحمه الله په زادالمعاد ۳/۳۴۴ کې فرمايي: **ومنها: أنه لا يجوز إبقاء مواضع الشرك والطواغيت بعد القدرة على هدمها وإبطالها يوما واحدا، فإنها شعائر الكفر والشرك، وهي أعظم المنكرات، فلا يجوز الإقرار عليها مع القدرة البتة، وهذا حكم المشاهد التي بنيت على القبور التي اتخذت أوثانا وطواغيت تعبد من دون الله، والأحجار التي تقصد للتعظيم والتبرك والنذر والتقبيل لا يجوز إبقاء شيء منها على وجه الأرض مع القدرة على إزالته، وكثير منها بمنزلة اللات والعزى، ومناة الثالثة الأخرى.**

ژباړه: او د هغې جملې څخه دا دي چې بې شکه جائز نه دي باقي پريښودل د شرک د مواضعو او د طاغوتي ځايونو وروسته د قدرت څخه په نړولو او ورانولو د هغې يوه ورځ هم ځکه چې دا د کفر او شرک شعائر دي او دا تر ټولو لوى منکرات دي، نو پس جائز نه دي چې پاتې کيدل سره د قدرت څخه د دې په نړولو بالکل او دا حکم د هغو جوړو شوو بناگانو هم دى، چې جوړې شوي په قبرونو باندې چې هغه بوتان او طواغيت نيول شوي، چې عبادت يى بغير له الله څخه کيداى شي او دغه ډول (دا حکم) د هغو کاڼو هم دى، چې د تعظيم تبرک نذر اوښکلولو په وجه يې تعظيم کيداى شي، نه دي جائز باقي پاتې کيدل د دې څخه د هيڅ شي په مخ د ځمکې وروسته د قدرت څخه په ختمولو د هغې او ډير له هغې څخه هغه په منزله د لات او عزى او د منات دى چې دريم اخيرنى دى.

زاد المعاد۳/۳۴۴ دغه ابن

القیم رحمه الله په إغاثة اللهفان کې دا هم ذکر کړي چې خپله شیخ الاسلام رحمه الله ډیرى دغه ډول اشیاء او مواضع چې خلکو تري معبودان جوړ کړي ول او د تبرک لپاره یې خاص کړي و هغه په خپل لاس په دمشق کې مات کړي دي، علامه طرطوشی رحمه الله په الحوادث والبدع ۱/۳۸ کې د ذات انواط د ونې حدیث ذکر کوي او بیا فرمایي: **فانظروا رحمكم الله أينما وجدتم سدرة أو شجرة يقصدها الناس ويعظمون من شأنها ويرجون البرء والشفاء من قبلها وينوطون بها المسامير والخرق؛ فهي ذات أنواط؛ فاقطعوها.**

ژباړه: خه وګورئ الله دې په تاسې ورحمیږي، چرته چې هم تاسې د بېرې او یا هم بله ونه وموموئ نو چې خلک د هغې څخه د(تبرک) اراده کوي او د هغې د شان تعظیم کوي او د هغې څخه د جوړیدو او شفاء امید ساتي او هغې کې کونډې او چوغې راځوړندوي (د خیر دحاصلیدو لپاره) نو پس دغه ذات انواط دی دا قطع کړئ.

همداراز ابن قیم رحمه الله د طرطوشی رحمه الله په حوالې سره په أفریقه کې د بعضې اهل علمو باره کې ذکر کړي چې د هغه خوا کې یوه چینه وه، چې عین العافیة به یې ورته ویله چې عام خلق د هغې متعلق په فتنه کې واقع شوي و، چې د لرې لرې منطقو څخه به ورته خلق راتلل نو چې چاته به د نکاح او یا هم د بچې متعلق مشکل پیدا کیده نو ویوونکي به ورته ووېل چې عافیه ته ورشه نو دغه فتنه پکې مشهوره وه ،نو دغه عالم ورغی ویې نړوله او هماغه ځای باندی یې د سحر اذان وکړ او دعا یې وغوښته چې ای الله ما خو دا ونړوله ته یې بیا سر مه راپورته کوه (یعنی دا بیا مه ښکاره کوه) نو فرمایي بیا هغې چینې تر ننه سر راپورته نه کړ“ [إغاثة اللهفان ۱/۱۱۲]

نو اوس دې مسلمانان وګوري چې کتاب او سنت او د امت علماء د شرکي مواضعو د نړولو څومره جدي امر کوي، خو بل طرف د قبوري امارت دیوبندي صوفیان د داسې مواضعو ترویج او تعمیر کول د ثواب او اجر باعث ګڼي، حتی مساجدو کې مړي دفن کوي او د قبرونو څخه طوافونه کوي، داسې ډیرى واقعات یې شته چې دې قوم کې دومره مشهور دي چې یادوني ته یې حاجت نشته او دا دی د ملاعمر قبر ته دې یو کتوونکی خه وګوري، چې په لږه موده کې یې څومره ترقي وکړه د بلخ شرکي مزار هم د دې مشرکانو لخوا څخه وخت په وخت ترمیمیږي، دغه ډول د دوی د وطن په لکونو دا زیارتونه چې ولاړ دي او خلکو معبودان ګرځولي دا د دوی په نزد هیڅ شرک نه دي، ځکه دا د دوی د وحدة الوجود د اعتقاد موافق هغه توحید دی، چې دوی او د دوی جمله دیوبندي او د نورو سلسلو صوفیانو پکې د مشهور مرتد او زندیق حسین بن منصور حلاج او د ابن عربي الطائی تقلید شروع کړی دی، لاحول ولاقوة الا بالله،

السیف المسلول علی من قاس جواز القباب علی قبة قبر الرسول

مخکې فصل کې د شرکي مزاراتو او جمله شرکي مواضعو نړول او دغه ډول په قبرونو بناګانې ګنبدې او مناري ورانول دا د الله امر او د رسول الله صلی الله علیه وسلم فعلي او قولي سنت او د هغه د صحابه، تابعینو اوجمله اهل السنة د اجماع څخه ثابت شول.

خو اوس که دلته څوک دا سوال وکړي چې تاسې وایاست، چې په قبر بنا جوړول او یا ګنبدې او قُبې منع او ناجائز دي، او دغه ډول مسجد کې مړي دفن کول ناجایز دي، نو بیا د نبي صلی الله علیه وسلم په قبر دا ګنبد ولې جوړه شوې، کومه چې د خلکو ترمنځ د شني روضې په نوم سره شهرت لري؟ او فعلاً د هغه دغه قبر شریف په مسجد نبوي کې داخل دی دا ولې؟

نو بعون الله الوهاب د دې سوال او یا هم اعتراض درې ځوابونه دي کوم چې مونږ په ”نیل التشرف، کتاب کې هم تفصلي ذکر کړي، چې دلته به یې هم د فائدې لپاره رانقل کړو:

۱: **جواب:** قبر باندې بنا او کوټه جوړول او ګنبد وغیره مناري جوړول او مساجد ګرځول، د دې

ثخه نبي صلی الله علیه وسلم شدیده منع کړې ده، چې دې باب کې أحادیث مخکې ذکر شوي نو صحابه به ثنګه د نبي صلی الله علیه وسلم مخالفت کوي؟ نو معلومه شوه چې نه نبي صلی الله علیه وسلم په مسجد کې دفن دی او نه په هغه کوټه او گومبد صحابوو جوړه کړی ده.

۲: جـواب: دا دی چې دې کې شک نه شته چې نبي صلی الله علیه وسلم دفن شوی په کوټه کې دی، عائشه مور رضي الله عنها د نبي صلی الله علیه وسلم په کوټه کې د دغه تدفین دا وجه ذکر کوي، چې که د نبي صلی الله علیه وسلم قبر ښکاره وای او هر ثوک ورتلای شوې او هر چاته ښکاریدلای،نو دا به خلکو مسجد گرځولای وای نو ویې فرمایل: **فلولا ذلك لأبرز قبره غير أنه خشي أن يتخذ مسجدا.**

ژباړه: نو که چرته دغه یره نه وی، نو قبر به یې ښکاره شوی وای، خو یره له دې وشوه چې دا مسجد ونه گرځول شي! نو معلومه شوه چې دا کوټه له پخوا ثخه موجوده وه او دا د عائشې مور کوټه وه، نو داسې نه وه چې دا وربانـدې وروسته جوړه شوې وي او دا ویره هم له دې کبله چې د نبي صلی الله علیه د فرمان مخالفت رانه شي نو د هغه تدفین په کوټه کې د همدې ویرې ثخه شوی، چې د هغه قبر مسجد ونه گرځي، نو معلومه شوه چې نه وربانـدې کوټه جوړه شوې او نه په مسجد کې دفن شوی، بلکه هغه د مسجد ثخه جدا خپل کور کې دفن شوی، وروسته هم چې کله مسجد نبوي کې د پراخ والي ضرورت محسوس شو او د امهات المؤمنين کوټې یې په مسجد کې داخلولې نو بیا د قبر ثخه ایرد، گرد دیوالونه ووهل شول او هغه د لمونځ کوونکو ثخه مکمل پناه وگرځول شو امام نووي رحمه الله په شرح د صحیح مسلم کې په ۵/۱۴ کې دغه وضاحت کړی دی، هغه فرمایي: **قال العلماء إنما نهي النبي صلى الله عليه وسلم عن اتخاذ قبره وقبر غيره مسجدا، خوفا من المبالغة في تعظيمه والافتتان به، فربما أدى ذلك إلى الكفر كما جرى لكثير من الأمم الخالية، ولما احتاجت الصحابة رضوان الله عليهم أجمعين والتابعون إلى الزيادة في مسجد رسول الله صلى الله عليه وسلم حين كثر المسلمون، وامتدت الزيادة في مسجد رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى أن أدخلت بيوت أمهات المؤمنين فيه ومنها حجرة عائشة رضي الله عنها مدفن رسول الله صلى الله عليه وسلم وصاحبيه أبي بكر وعمر رضي الله عنهما، بنوا على القبر حيطانا مرتفعة مستديرة حوله لئلا يظهر فيصلي إليه العوام، ويؤدي إلى المحذور، ثم بنوا جدارين من ركني القبر الشماليين، وحرفوهما حتى التقيا حتى لا يتمكن أحد من استقبال القبر، ولهذا قال في الحديث: ”ولولا ذلك لأبرز قبره، غير أنه خشي أن يتخذ مسجدا، والله أعلم بالصواب.**

ژباړه: علماوو فرمایلي دي په منعه کولو د نبي صلی الله علیه د خپل او یاد بل د قبر ثخه د مسجد جوړولو ثخه دا ویره وه د مبالغې کولو ثخه په تعظیم د هغه او د واقع کیدلو د فتنې ثخه په هغې کې نو پس ډیر ځلې (دغه کارونه) کفر ته وغزیږي، لکه ثنګه چې دغه کارونه په ډیرو تیرو شویو امتونو کې شوي دي، خو چې کله صحابه رضوان الله علیهم اجمعین او د هغوی تابعین محتاج شو، چې کله مسلمانان ډیر شول (او مسجد کې ځای کم و) نو پراخوالی د مسجد د رسول الله صلی الله علیه وسلم اوږد شو تر دې چې د امهات المؤمنین کوټې یې مسجد کې را داخلې کړی، چې هغې کې د عائشې مور کوټه هم وه، کومه کې چې نبي صلی الله علیه وسلم او د هغه دوه ملگري ابو بکر او عمر رضي الله عنهما دفن و نو د قبر ثخه یې ورته اوچت اوچت دیوالونه گیرد چاپیر ووهل د دې وجې ثخه چې ښکاره نه شي او عوام ورته لمونځونه ونه کړي، د دې وجې نه چې ممنوع ته ونه غزیږي بیا یې د قبر شمالي جانب ته دوه دیوالونه کاږه د مثلث په شکل ووهل چې سرونه یې سره یوځای شوي، د دې وجې ثخه چې میسر نه شي چاته چې دا ورته قبر ته مخامخ ودریږي په لمونځ کې او د همدې

وجې نه حدیث کې ویل شوي، چې که دغه ویره نه وای، نو قبر به یې ښکاره شوی وای خو ویره له دې وشوه چې قبر یې مسجد ونه ګرځول شي او الله په حقیقت ډیر علم لرونکی دی.

۳: جواب: نو لکه څنګه چې معلومه شوه چې دغه کوټه په رسول الله صلی الله وروسته د دفن څخه نه ده جوړه شوي، بلکې دا د عائشې رضي الله عنها کوټه وه وجه دا ده چې نبي صلی الله علیه وسلم چې کله وفات شو نو د صحابوو ترمنځ نظرونه مختلف شول، د ده د دفن ځای متعلق، نو د ترمذي روایت کې چې په ۱۰۱۸ نمبر راځي چې أبو بکر رضی الله عنه ورته وفرمایل: **سمعت من رسول الله صلى الله عليه وسلم شيئا ما نسيته، قال: «ما قبض الله نبيا إلا في الموضع الذي يحب أن يدفن فيه»، ادفنوه في موضع فراشه".**

ژباړه: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه څه اوریدلي، چې هیر مې نه دي او هغه دا چې (هغه فرمایلي چې) الله هیڅ نبي نه وفات کوي مګر هغه ځای کې چې هغه یې خوښه ګڼي، چې هلته دفن شي، نو پس تاسې دا د خپلې بسترې پرځای دفن کړئ او د مسند ابی یعلی په روایت کې چې په نمبر ۲۲ باندې الفاظ داسې دي، چې ابوبکر رضی الله عنه وفرمایل **إني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «ما قبض نبي إلا دفن حيث قبض».**

ژباړه: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې فرمایل یې هیڅ نبي نه شي وفات کیدای مګر دا چې دفن کیدای به شي، چې چرته وفات کیدای شي او د ابن ماجه روایت کې د "حیث یقبض" الفاظ دي، الغرض دا حدیث دلیل دی په دې چې نبي صلی الله علیه وسلم باندې کوټه نه، بلکې هغه د خاص دلیل او صریح نص په وجه په کوټه کې د خپلې بسترې پرځای دفن شوی چې امت کې هیڅ څوک په دې نه شي قیاس کیدای او کومه چې شنه قبه ده په قبر د نبي علیه السلام نو دا هم نه دصحابوو او نه د تابعینو دور کې وه، بلکې دا وروسته مبتدعینو اوقبر پرستو پرې جوړه کړېې ده ځکه دا په شریعت کې منع ده، نو که دا کار جائز او یا هم قابل د مدحې وای نو دا به بیا د نورو صحابه کرامو قبرونو باندې هم وای او حال دا چې اوچت اوچت أفضل أفضل صحابه کرام وفات شوي او شهیدان شوي، خو د هیڅ یوه په قبر کې د دوی څخه کوم یوم باندې نه ابادي او نه ګنبد قبه او مناره جوړه شوی ده، خو نن چې تاسې ګورئ نو اکثر د دې صوفیانو په پیرانو داسې تعمیرات او ګنبدې جوړې شوې چې عقل ورته حیران پاتې کیږي، لرې مه ځئ، په بلخ ولایت کې د سخي د روضې په نوم دا ابادي وګورئ ټول افغانستان کې داسې مسجد نشته، خو قبر باندې جوړه شوی دغه ابادي وګورئ دا څومره اصراف شوی دی او بیا شرکیات یې وګورئ، چې څومره په کې کیږي، دفحشا خو په کې حد نشته، دغه شان کېسه به د ملاعمر د قبر څخه هم په مرور د وخت جوړه شي، که د دې صوفیانو دا قبوري امارت لږ وخت نور پاتې شي "لاقدّر الله" د دې نه بغیر، داسې نور دربارونه پاکستان کې وګورئ، لاړشئ ایران ته هلته خو لس قدمه کې تاسې د روافضو الهه وو باندې دغه شرکي دربارونه، ابادیانې او ګنبدې کتلی شئ، چې د درواغو په نومونو یې نومولي، چې دا فلانی دی او دا فلانی اول خو دغه یوهم ثابت نه دی چې دا دی د کوم صحابي یا اهل بیت قبر وي او که وي بالفرض نو بیا ورباندې دا ابادۍ او پاخه تعمیرات او په هغې کې ترسره کیدونکي شرکیات ټول په ټوله د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم سره، سره د دې امامانو او اولیاوو مخالفت او نافرماني ده، خو د تصوفي قبوري امارت صوفیانو خاص او نورو صوفیانو عام د روافضو په شمول قسم کړی که توبه ترې وباسي، الا ما شاء الله تعالی.

وبالله تعالی التوفیق والحمد لله رب العلمین.



د تور بیرغ وزر غواړي

چیغې سورې یې ندی حل ټوپک خنجر غواړي
دین قرباني غواړي، روحونه غواړي سر غواړي

***

بې همتي، کمزوری عزم پکې نه چلیږي
روان جهاد استقامت لکه د غر غواړي

***

بیا چې غاښونه د کسرا او قیصر دواړو کړي مات
مظلوم امت سعد، عبیده، فاروق عمر غواړي

***

که د اسیرو خویندو سوي سوې کریغې اورئ
په کور بیا مه کېنئ حالات، رانه سنګر غواړي

***

څه عجیبه بازار دی، څومره نا آشنا سودا ده
حوري ډالۍ کې په مرمو پرهر ټټر غواړي

***

د صلیب توغ به شي نسکور فولادي هوډ پکار دی
د جهاد لاره ګوره کلک درېځ د نر غواړي

***

دا ځینې خلک څومره پست دي رذالت نه ډک دي
مؤمن وژنه باندې هم امتیاز، ډالر غواړي

***

شریعت راشي، وي خوښي، راحت، سکون او امن
مؤمن ولس ځکه د تور بیرغ وزر غواړي

***

ځوانه! ساتنه د عزت فرض، د قرآن او نبي ﷺ
جهاد واجب دی، ټکول هر یو کافر غواړي

دیوبندیان

څوک دي؟

5

برخه

دیوبندیان څوک دي؟

(۵)

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو!

تاسې د دیوبندیانو د شرکي عقائدو، خرافاتو او نورو خباثتونو په اړه د دې تحقیقاتي ، علمي او معلوماتي لړۍ څلورمه برخه د خراسان غږ مجلې په څلرویشتمه ګڼه کې ولوسته په دې ګڼه کې مو د همدې سلسلې د پنځمې برخې لوستو ته رابولو .

د مړو لخوا د خوړو ویش(تقسیم)

د دیوبندیانو مړي، کله د خلکو ترمنځ جګړې هواروي او کله بیا د خلکو ترمنځ خواږه شیان ویشي. د "اشرف السّوانح" لیکوال، د اشرف علي تهانوي د غور نیکه د مړینې په یاد کې لیکي: حضرت صاحب کسی بارات میں تشریف لے جا رہے تھے کہ ڈاکوؤں نے آکر بارات پر حملہ کیا۔ ان کے پاس کمان تھی اور تیر تھے۔ انہوں نے ڈاکوؤں پر دلیرانہ تیر برسانا شروع کئے۔ چونکہ ڈاکوؤں کی تعداد کثیر تھی اور ادھر بے سر و سامانی تھی یہ مقابلے میں شہید ہوگئے شہادت کے بعد عجیب واقعہ ہوا۔ شب کے وقت اپنے گھر میں مثل زندہ تشریف لائے اور اپنے گھر والوں کو مٹھائی لاکر دی اور فرمایا اگر تم کسی سے ظاہر نہ کروگی تو اسی طرح سے روز آیا کریں گے۔ لیکن ان کے گھر والوں کو اندیشہ ہوا کہ گھر والے جب بچوں کو مٹھائی کھاتے دیکھیں گے تو معلوم نہیں کیا شبہ کریں گے اس لئے ظاہر کردیا اور آپ تشریف نہیں لائے۔ یہ واقعہ خاندان میں مشہور ہے۔ [اشرف السوانح: ج1/ص14]

ژباړه: حضرت صاحب د واده په جنج کې روان و نو غلو په دې کاروان برید وکړو، له هغوی سره لیندې او غشي وو نو په غلو یې په زړورتیا سره وارونه پیل کړل، د غلو شمېر ډېر زیات و او بل لور ته کاروان بې اسرې او د غریبۍ په حال کې وه نو هغه په دې مقابله کې شهید شو او له شهادت څخه وروسته ورسره یوه عجیبه کیسه وشوه، د شپې پرمهال د ژوندي انسان په څېر کور ته راغی او د کور په خلکو یې خواږه وویشل او ورته یې وویل: که تاسو دا کیسه بل چاته ونه کړئ نو دا (زما راتلل) به دوام ولري خو له هغوی [میرمن] سره یې دا ډار پیدا شو چې د کور خلک ماشومانو لاس کې خواږه وګوري نو پته نه لګي چې کوم شک به وکړي، دې وجې نه یې دا راز په ډاګه کړ او هغه بیا رانغی. دا کیسه یې په کورنۍ کې مشهوره ده.

دا عجیب سحر دی چې یو انسان له مرګ څخه وروسته، د ژوندی انسان په توګه، خپل کور او میرمن ته راځي او بیا دا وعده هم کوي چې زه به بیا هم راځم، او میرمن یې د بدنامۍ تور داغ څخه ډارېږي او خبره ښکاره کوي نو پیر صاحب په قبر کې خبرېږي چې میرمن مې راز افشاء کړ نو بیا نه راځي او بل لور ته قران د هغه انسان یادونه کړې ده چې د اسلام د دعوت له امله شهید شوی و او الله هغه ته دا خطاب کړی دی:

﴿قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ قَالَ يٰلَيْتَ قَوْمِى يَعْلَمُونَ﴾ 26 **﴿بِمَا غَفَرَ لِى رَبِّى وَجَعَلَنِى مِنَ الْمُكْرَمِينَ﴾** 27 [سُورَةُ يٰسٓ: 26 ـ 27]

ژباړه: هغه ته وویل شول چې ننوځه جنت ته، هغه وویل (کاشکې زما قوم ته معلومه وای چې زما رب ماته بښنه وکړه او زه یې په عزتمندو خلکو کښې وشمېرلم).

دا خبره یې د ارمان په توګه کړې، کاش چې زما قوم پوهېدلی، که دنیا ته د بیرته راتلو مسئله وای نو دې شهید به ضرور د خپل قوم خلکو ته دا مسئله بیان کړې وه چې د ایمان په بدله کې الله انسان ته کوم، کوم نعمتونه ورکوي خو د الله قانون دا دی، لکه څنګه یې چې قران کې بیان کړی دی:

﴿كَلَّآ إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِىَ﴾ 26 **﴿وَقِيلَ مَنْ رَاقٍ﴾** 27 **﴿وَظَنَّ أَنَّهُ الْفِرَاقُ﴾** 28 **﴿وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ﴾** 29 **﴿إِلٰى رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمَسَاقُ﴾** 30 [سُورَةُ القِيَامَة: 26 ـ 27 ـ 28 - 29 - 30]

ژباړه: هېڅکله نه،

کله چې ساه مرۍ ته ورسېږي. او وويل شي چې شته دی څوك دمګرۍ (دم کوونکی). او ناروغ انسان به وانګېرۍ چې دا يې له دنيا څخه د بېلتانه وخت دی. او يوه پنډۍ يې بلې پنډۍ پورې ونښلی. هغه ورځ به ستا د رب لوری ته ورخوځېدل وي.

دې وخت کې د پاتې کېدو سوال هم نه پيدا کيږي. لکه الله تعالی فرمايي: **﴿فَلَوْلَآ إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُومَ﴾** 83 **﴿وَأَنتُمْ حِينَئِذٍ تَنظُرُونَ﴾** 84 **﴿وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُبْصِرُونَ﴾** 85 **﴿فَلَوْلَآ إِن كُنتُمْ غَيْرَ مَدِينِينَ﴾** 86 **﴿تَرْجِعُونَهَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ﴾** 87 [سُورَةُ الواقِعَة: 83، 84، 85، 86، 87]

ژباړه: نو کله چې د مړ کېدونکي ساه ستوني ته را رسېدلې وي. او تاسې په سترګو کتونکي ياست چې هغه مړ کيږي، او په هغه وخت کښې ستاسې په پرتله موږ هغه ته ډېر نژدې يوو، خو تاسي يې نه وينئ. نو که تاسي داسي ياست چې نه جزا درکول کيږي او نه بيا را ژوندي کېږئ، نو ولې د هغه وتلي ساه بېرته نه راګرځوئ که تاسي رښتيني ياست؟

نو کله چې له مړي څخه روح نشي ګرځېدای نو له مرګ څخه وروسته به څنګه دا روح په بدن کې ننوځي؟ چې قبر به وشکوي او کور ته به راشي او د هميشني راتګ وعدې به وکړي، خواږه به تقسيم کړي، دا معلومه نه ده چې دغه ځای قبر دی او که د خواږو ويشلو ګدام دی، که له ځان سره يې له برزخ څخه نه وي راوړي نو کېدای شي چې په دنيا کې يې له چا څخه غلا کړي وي ځکه چې قبر ته په تشو لاسو له تللو څخه وروسته، دا روپۍ قبر ته څنګه ورسېدلې؟ او دا وعده يې کړې وه چې هره ورځ به راځم نو هره ورځ به يې د خوږو راوړلو لپاره روپۍ له کومه کولې؟ او د کور خلکو چې دا راز ښکاره کړ نو هغه په قبر کې څنګه خبر شو؟ چې اوس تګ نه دی پکار ځکه د کور خلکو بې وفايي وکړه، د دې پوښتنو ځوابونه له کوم ديوبندي پير صاحب، مريد صاحب او يا له کوم عالم سره شته؟ لړ د [زلزله] کتاب د ليکوال، اعتراضي ځواب واورئ، هغه وايي: رہا اولیاء اللہ کو احیانا برزخ میں دنیا کے احوال کا علم ہو جانا تو ایسے علم کو علم غیب کرنے والا سخت ناداں اور جہالت میں مبتلا ہے. [انکشاف ص93]

ژباړه: پاتې دا خبره چې اولياء الله ته په عالم برزخ کې د ځينو دنيوي حالاتو علم کېدای شي نو له دې علم څخه د علم غيب تعبير کونکي، په سخت ناپوهه او جهالت کې مبتلا دي.

د ملاقات لپاره د مړو راتلل

ديوبنديانو ته له عالم برزخ څخه د ملاقات لپاره دنيا ته راتلل دومره اسان کار دی چې په دې کې هيڅ ډول ستونزه نه رامنځته کيږي، له مرګ څخه وروسته د بېرته راتللو دا کيسه د اشرف علي تهانوي له خولې واورئ: مولانا اسماعیل دہلوی کے قافلے میں ایک شہید ہوگئے جن کا نام بیدار بخت تھا۔ یہ مجاہد دیوبند کے رہنے والے تھے۔ ان کی شہادت کی خبر آچکی تھی۔ ان کے والد حشمت علی خان صاحب حسب معمول دیوبند میں اپنے گھر میں ایک رات تہجد کے لئے اٹھے تو گھر کے باہر گھوڑوں کے ٹاپوں کی آواز آئی۔ انہوں نے دروازہ کھولا تو یہ دیکھ کر حیران ہوئے کہ ان کے بیٹے بیدار بخت ہیں بہت حیرانگی بڑھی کہ یہ تو بالاکوٹ میں شہید تھے یہاں کیسے آگئے بیدار بخت نے کہا جلدی کوئی دری وغیرہ بچھائیے۔ حضرت مولانا اسماعیل صاحب اور سید (احمد) صاحب یہاں تشریف لا رہے ہیں۔ حشمت خان نے فورا ایک بڑی چٹائی بچھائی ۔ اتنے میں سید صاحب اور مولانا شہید اور چند دوسرے رفقاء بھی آگئے حشمت خان نے محبت پدری کی وجہ سے سوال کیا تمہارے کہاں تلوار لگی تھی۔ بیدار بخت نے سر سے اپنا ڈھاٹا کھولا اور اپنا نصف چہرہ اپنے ہاتھوں میں تھام کر اپنے باپ کو دکھایا کہ یہاں تلوار لگی تھی۔ حشمت خان نے یہ کہا کہ ڈھاٹا پھر سے باندھ لو۔ مجھ سے یہ نظارہ نہیں دیکھا جاتا۔ تھوڑی دیر بعد یہ تمام حضرات واپس تشریف لے گئے۔ صبح کو حشمت خان کو شبہ ہوا کہ یہ کہیں خواب تو نہیں تھا۔ مگر چٹائی کو غور سے دیکھا تو خون کے قطرے موجود تھے۔ یہ وہ قطرے تھے جو بیدار بخت کے چھرے سے گرتے ہوئے اس کے والد نے دیکھے تھے۔ ان قطروں کو دیکھ کر حشمت خان سمجھ گئے کہ بیداری کا واقعہ ہے خواب نہیں۔ اخیر میں چند راویوں کے نام گنمائے کہ اس حکایت کے اور بھی بہت سے معتبر راوی ہیں. [ملفوظات مولانا اشرف علي خان: ص459 بحواله هفت روزه چټان 24/دسمبر/1962ع،م]

ژباړه: د شهيد مولوي

اسماعيل په کاروان کې يو کس شهيد شوی و چې د هغه نوم بيدار بخت و، دا مجاهد د ديوبند اوسېدونکی و، د نومړي د شهادت خبر راغلی و، د ده والد صاحب (پلار) حشمت علي خان، د خپل عادت مطابق په ديوبند کې يوه شپه د تهجدو لپاره راپاڅېدو نو له کوره د باندې يې د اسونو د پښو غږونه واورېدل، دروازه يې خلاصه کړه نو د دې حالت په ليدو ډېر زيات حيران شو، ګوري چې د باندې بيدار بخت ولاړ و او ډېر حيران په دې شو چې دا خو په بالا کوټ کې شهيد شوی دی نو دا ثنګه دې ځای ته راغلی؟! بيدار بخت وويل: په بيړه يو فرش درئ ثه شی خور کړه ځکه مولانا اسماعيل او سيد احمد دلته ته را روان دي. حشمت خان زر لوی فرش خور کړ نو په دې وخت کې سيد احمد، شهيد شاه اسماعيل او نور ملګري راغلل. حشمت خان د پلارولۍ د مينې له امله خپله له خپل زوی ثخه پوښتنه وکړه چې ستا په کوم ځای د تورې وار لګېدلی و؟ نو بيدار بخت له خپل سر ثخه پټۍ لرې کړه او خپل نيم مخ يې په لاس کې ونيوو او پلار ته يې وښودلو چې په دې ځای د تورې وار لګېدلی ده، حشمت خان وويل: دا بيرته وتړه ځکه دا حالت زه نشم ليدلای، لږ وروسته بيا دغه ټول حضرات بيرته ولاړل، سهار حشمت خان ته دا شك ورپيدا شو چې دا خوب و او که حقيقت و؟! کله چې فرش ته ځير شو نو په هغه د وينو سرې دارې او د ثاثکو خاپونه ښکارېدل، دا هغه ثاثکي وو چې د بيدار بخت له مخ ثخه ثثېدلي وه، له دې وروسته حشمت خان په دې يقيني شو چې دا د بيدارۍ او ويښتيا د حال کيسه وه، خوب نه و. په پای کې يې د يو ثو راويانو نومونه ښودلي دي چې دا د دې کيسې معتبر راويان دي.

يوه بريلوي عالم په دې کيسه داسې تبصره کړې ده:

د ديوبند دا شهيد اعظم چې د شهادت په مقام کې يې ټول شهيدان شاته پرېښې، دا د نومړي د روحاني غلبې حالت دی. خو په دې ځای کې د شخصيت پرستۍ، دا ظلم او بربريت وګورئ چې په دې کيسه کې يې د ازادۍ د جنګ يو شهيد، د بدر او حنين له شهيدانو ډېر لوړ کړی دی ځکه د اسلام د ټولو شهيدانو له ستر او لوړ مقام سره، سره د هغوی په اړه داسې روايت نشته چې هغه خپل غوث شوی سر خپل کور ته راوړی وي او د کور له خلکو سره يې خپله خبرې کړې وي، که دا عقيده ومنل شي نو سره له دې بيا هم د دوی د توحيد په اجاره کې ثه فرق نه راځي!! د دې قبيلې يوه بله کيسه واورئ:

د مړو په مرسته غچ (انتقام)

محمد مصطفى بجنوري ليکي: اس زمانے میں مہندس نے آپ کے قریب میں ایک مکان تعمیر کیا اور اس میں ایک غرفہ رکھا۔ جس سے حضرت کے دولت خانے کی بے پردگی ہوتی تھی اور انواع و اقسام کے ظلم و جبر خدمت شریف میں کرتا تھا اور آپ کی طرف سے اپنے دل میں عناد رکھتا تھا۔ حضرت نے ایک شخص کے ذریعے کلمۃ الخیر تبلیغ فرمایا۔ لیکن اس نے کچھ خیال نہ کیا، بلکہ کلمات بیہودہ زبان پر لایا۔ لوگوں نے یہ واقعہ حضرت سے عرض کیا اور اکثر احباب کی رائے ہوتی کہ حاکم وقت کے یہاں استغاثہ کیا جائے۔ بجواب اس کے حضرت ایشاں نے ارشاد فرمایا کہ میرا استغاثہ حاکم حقیقی کے یہاں ہے۔ حاکم مجازی کے آگے درخواست کرنا درست نہیں ہے۔ ایک ہفتہ بھی نہ گزرا تھا کہ تیغ برہنہ اہل چشت نے اس پر گزر کیا اور باوجود اعزاز بلیغ و اعتبار عظیم بلا وجہ ظاہری اپنے منصب سے علیحدہ کردیا گیا اور ایسی ذلت و خواری میں مبتلا ہوا کہ اللہ کسی کو نہ دکھاوے۔ بے شک سچ کہا ہے کہ خواجگان چشت علیہ الرحمہ نے اپنے تلوار بے نیام کرکے لٹکار رکھی ہے اور کسی پر اس کا وار نہیں کیا جاتا مگر جو کوئی اس سے لگ اور چھیڑ کر نکلتا ہے اپنی کرنی کو بھرتا ہے۔ [امداد العشّاق ص175]

ژباړه: په دې زمانه کې يو انجينر له ده سره نژدې يو کور جوړ کړ او په دې کې يوه کوټه وه چې له هغه ځايه د حضرت کور بې ستره و (کور منځ يې ښکاريدو) او ډول، ډول ظلمونه به يې کول او حضرت صاحب سره يې په زړه کې حسد او کينه لرله؛ حضرت صاحب د يو چا په مرسته يې د خير خبرې ورولېږلې خو هغه يې ثه پروا ونکړه او چتيات يې هم وويل. خلکو دا خبره حضرت صاحب ته وکړه او د اکثر ملګرو همدا نظر

و چې دا مسئله دې د وخت حاکم ته وړاندې شي، د دې خبرې په ځواب حضرت صاحب ووېل: زما فرياد کول به د حقيقي حاکم په دربار کې وي ځکه د مجازي حاکم په دربار کې شکايت سم نه دی، يوه جمعه لا نه وه تېره چې په دې حالت کې چشتيان له بربنډو تورو سره پرې تېر شول او د لوړ مقام درلودو سره سره پرته له کوم ظاهري سبب له خپل منصب څخه لرې کړای شو او په داسې ذلت او رسوايي کې اخته شو چې الله دې دا حالت هيڅ چا ته نه ورښايي؛ يقينا ريښتيا يې ويلي چې د چشت خواجهګانو لغړه توره ځوړنده کړې ده خو په چا د تورې وار نه کوي خو که څوك دوی ته تکليف رسوي نو بيا به هغه د خپلو کړنو سزا ګالي.

دا معلومه نه ده چې په دې ځای کې له حقيقي حاکم څخه مراد څوک دی؟ که الله يادوي نو الله عزوجل خو د ملائکو په واسطې انسان ته سزا ورکوي، دا د چشت خواجګان د الله کوم مخلوق دی؟ دا د مړو خلکو لخوا انتقام او بدله اخيستل د کوم شريعت مسئله ده؟ د هغوی له بربنډو تورو ګرځولو څخه دا معلوميږي چې دا مخلوق يوازې د انتقام لپاره دی او دا معلومه نه ده چې هغوی څنګه خبر شوي و چې فلانی کس زمونږ فلانی ملګری تکليفوي؟

د مړي عنايت (لورينه) او رحم

دا واخلئ د يو بل مړي لورينه؛ سيد نور الحسن ليکي: رشيد احمد گنگوہی نے ایک دفعہ حاجی امداد اللہ صاحب سے عرض کیا کہ ایک شخص نے مجھ سے کہا تھا کہ حضرت قمیص خانقاں ساڑھورہ میں مدفون نہیں ہیں- حضرت مرشد نے فرمایا: تم سے جس شخص نے ایسا کہا غلط کہا ہے حضرت شاہ قمیص رحمۃ اللہ علیہ اسی جگہ تشریف رکھتے ہیں۔ جب میں ساڑھورہ حاضر ہوا تھا تو میرے حال پر حضرت نے بہت عنایت فرمائی تھی- [امداد المشتاق: ص184 بحواله تذکرة الرشيد ص235]

ژباړه: رشيد احمد ګنګوهي يوه ورځ حاجي امداد الله صاحب ته ووېل: يو چا ما ته دا خبره وکړه چې حضرت قميص د ساړهوره په خانقاه کې نه دی خښ، حضرت مرشد ورته ووېل: تاته چې چا دا خبره کړې ده، غلطه ده؛ شاه قميص رحمه الله په همدې ځای کې دی ځکه کله چې زه ساړهوره ته تلی وم نو شاه صاحب زما په حال باندې ډېره لورينه کړې ده.

معلومه نه ده چې دا کوم ډول پېرزوينه يا لورينه ده او دا خلک له قبرونو څخه پيرزوينې غواړي، رشيد احمد ګنګوهي فرمايي: ابتدائی زمانہ میں ہمارے حضرت حاجی صاحب (امداد اللہ) کو وحشت طاری ہوئی تین روز تک حضرت قلندر صاحب کی قبر پر مراقب ہوئے مگر کچھ پتہ نہیں چلتا تھا۔ آخر حضرت میاں جی نور محمد صاحب کو دیکھا کہ تشریف لائے اور فرمایا کہ یہاں کیا بیٹھے ہو۔ پھر قبر کھود کر دکھلایا کہ کچھ نہیں ہے. [امداد المشتاق ص183 بحواله تذکرة الرشيد ص447]

ژباړه: په لمړيو وختونو کې زمونږ په حاجي امداد الله صاحب ډار غالب شوی و، تر درې ورځو پورې د حضرت قلندر په قبر باندې مراقبه شوی و خو هيڅ معلومات ورته نه کېدل، اخر يې مياجي نور محمد وليدو، چې هغه راغی او ويې ووېل چې دلته د څه شي لپاره ناست يې؟ بيا يې قبر وسپړلو او دا يې وروښوده چې دلته هيڅ شی هم نشته.

